د لوي ښتن په نامه

# فلسفه

## داسې لږ له فلسفې

د پښتو نړیوالې ورځې ته

د ۲۰۲۰ ز ک جون میاشت

راټولونکی: ډاکتر محمد میرک شینواری

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د لوي ښېښتن په ستر نامه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کتابپېژندنه

د کتاب نوم: فلسفه
راټولونکی: ډاکتر ماخان میرې شینواری
خپرندوي. کتابتون. کوم Ketabton.com
د خپرولو کال جولای . ۲۰۲۰ ز ک

د راټولونکي برېښناپته:
smakhn1946@gmail.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نیولیک


سریزه الف
فلسفه ۱
د یوه فیلوسوف ادعا ۳
فلسفه څه شی دی؟ ۴
تېزې ۵
انتیتېزې ۷
هیوپوتېزې ۹
د کانت هیوپوټطزې سره د حکم بڼه ۱۳
په افانستان د روغې راتګ عملي بېلګه ۱۵
هغه ویونه چې روښانونه غواړي ۱۷
د سوچه هوښیارتیا فکري توان انتینومي ۱۹
............................ دویمه برخه ۲۵
فورمال لوګیک ۳۲
لوګیک یا لوجیک ۳۴
د شمېرپوهنې سم اند ۳۶
د راټولوونکي لیکنې او ژباړې ۴۲
د راټولوونکې ژوند ته لنډه کتنه ۵۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

# الف

سریزه:

د دې لیکلنې سره توکلي مخامخ شوم. زړه مې نه وو، چې له فلسفې سره ځان بوخت کړم، خو سره له د ې مې هم دا یو څو فلسفي لیکنې له الماني څخه له تاسو سره ګډول زړه وغوښته. په دې خو پوهیږو، چې فلسفه یو په زړه پورې د لوست خوندیونې لري او ډېرې خبرې پرې کېدی شي.

دا څه چې له تاسو سره ګډوم، هیله ده، چې داسې ستاسو د خوښی لامل به شي. فلسفه کې تل اندونه سره بدل وي، خو دا زه چې تاسو سره ګډوم، دا ما د الماني لیکوالانو لیکلې له تاسو ګډول دي، چې ماته یې هغه لیکنډول خوند راکړ او هیله لرم، چې ما به دا داسې لږ څه د بنسټ لیکنې په څېر نه، خو داسې ورنږدې خوند به ترې واخلی.

زمالیکنې دباندني ویونه کم لري او له دې امله هم هیله ده، چې تاسو د ورسره نابلد په څېر سټړي نه کړي.

ګرانو لوستنکو: زه هڅېدلی یم، چې زما لیکنې ډېرې ټولپوهوړ ولیکم، خو داسې که نه وه ما ته به خښنه وکړی.

په دې لیکنه کې – لکه په نورو کې – زه هڅېدلی یم، چې فلسفه هم په پښتو، دا پهدې مانا، چې ساده او پوهوړ ولیکم.

دا یوه له څېړونکو رانیولې پوهنیز د پرېځبرو څه دي، چې زما له اند او عقېدې سره سر او کار نه لري. دلته ما دا لیکنې راټولې کړي او ډېرې خوندورې راته بریښي، چې زړه مې تاسو ته د دې وړاندې کېدل په مینه وغوښتل

ما غوښتل چې دا فلسفي ویونه سره رایوځای او تاسو ته یې د پښتو ترې پ،هېدنې سره برګ اندې کړم، خو د لاسه مې پ،ره نه شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# Philosophie فلسفه

نوموتي يا مشهور فيلوسوفان:

په څېره کې  کينې پلاتون د خپل زده-کوونکي ارېستوتالس سره

 په خواشينۍ بايد ووايم، چې هغه څېرې ورانې

شوې وې او له دې امله ما نه شوې پورته کولی.

داسې لږ څه له فلسفې:

په فلسفه ( زړه يوناني کليمه φιλοσοφία ده يا وی دی، چې د *philosophía* سره لاتين شوې اوښکې په ټکي يا وی ييزه مانا يې ،، مينه وهوښيارتيا ته،، يا ،، د هوښيارتيا سره مينه،، ده) کې هڅه کيږي، چې نړۍ او انسان په ټولو يوګونوالو، تر بنسټه وپيژني، روښانه کړي او پرې وپوهيږي.

د نورو پوهندسيپلينونو څخه فلسفه په دې کې ځان بيلوي يا د نوروپوهنو سره له دې لارې توپيرلري، چې په يوه ځانګړې ريښه کې او يا ټاکلې متودپوهنه کې رابنده نه وي، بلکه د هغې پوښتنکونه او د هغې ځانګړنې هغې ته تلنډول د هغې د الاتو ډېرډولوالي شيانورشوګانو د رقم له لارې کرکتريستيکي يا تيوپيکي ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د فلسفې زړېتکي سم اند (د سم اند اړوند فکري پوهنه)، اېتيک يا اخلاق( د سم کړنلار پوهنه) او ميتافزيک ( د شتون او رېښتينوالي لومړنيو دلايلو پوهنه) دي. نور سټډسپلينونه پيژندنتيوري او پوهنتيوري دي، چې دوي د پوهيدنګټنويا پوهيدنلاس ته راوړنو، په ټوليزه توګه همداسې په ځانګړي توګه د بيلابيل يوګونپوهنو د پوهيدنډول امکانات دي.

پيلراوړنه يا پيلامه:ستونځې شته، کومې چې د ټيک پوهنو د مرستې سره  هم په کار نه يا نه پوره اچول  کيدی شي:

د دې پسې پوښتنه چې څه شی ،، بد،، او،، ښه ،، دی، ،،

............... ۲ ..................

حقوالی(؟)،، څه مانا لري،  ايا خدا(ج) ( خدای مې دې نه ګوناه کاره وي،د فلسفې څېړنه ده)شته، ايا انسان يوه نه مړه کيدونکې ارواح لري اويا ،، د ژوند موخه،، څه شی دی.

همداسې کيدی شي د پوښتنويونو بل ټولګی د بيلګې په توګه پيداښتي پوهنې وي:

-- بيولوژي په حقيقت کې د ژونديو نړی څيړي، خو دا نه شي ټاکلی، چې د دې ژوندي ،، شتون،، څه سر ته رسوی، ايا او کله دژونديو اورګانيزمونو(غړو) د مرګ اجازه شته يا د انسان ژوند کوم حقونه او مکلفيتونه خوندي لري.

-- د فزيک او د شميرپوهنې سره کيدی شي پيداښتي قوانين يا لارې وويلی يا افاده کړای شي يا روښانه کړای شي، خو پوښتنه، چې ايا پيداښښت بيخي د قانوني لارې جوړ دی، دا کوم پيداښتي پوهنه بيخې نه شي ځوابولی.

-- حقوقپوهنه څيړي او کره کوي، چې که يو څه د قوانينو سره په همغږی پيښيږي، څه شی چې د غوښتنو – يا هيلوسره سم قوانينومنځ پانګه کيدی شي، دا د هغې له بنديز يا چوکاټ اوړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

-- ټولیز نه ځانله د هر یوګونپوهنې ، بلکه بنسټیزه پوښتنه راپورته کیږي، چې موږ له دې لاسته راوړي پوهې سره څنګه ځان برابرولی - یا سمولی شو.

-- له دې سره پوښتنې شته، چې د فکرکولو پولې لمسوي، لکه دا پوښتنه، چې ایا دا په همدې سترګورپ کې ځانیز- یا ځانله حس کړی ربښتیاوالی هم په ریښتونې شتون لري.

په ټولوداسې حالتونو کې د یوګونو پوهنو روښانه-ونو مودل له وینو پاتیږي یعنې څه نه شي ویلی، دا فلسفي پوښتنې دي.

یوناني فیلوسوف پلاتون Platon (428/27 – 348/47 د عیسوي وخت د مخه) له دې امله په دې څیره ( که غواړۍتصویر) کې شک پیدا کړ، کومه چې انسان پخپله له ځانه او له نړۍ ورکړی وه.

په خپل نوموتي یا مشهورکتاب سمڅورته یا د سمڅې سره برابرHöhlengleichnis کې هغه د نور څنک د عادي انسان رابندې یا محدودې احساسونې توانوالی او پیژندتوانوالی داسې راګرځوي یا هنداره کوي.

.

............. ۳ .................

دوي د خپل برابر یا ورته سره څنګ په څنګ لړۍ په یوهمڅه کې ناست، ټول په یوه ډول تړلي، داسې چې دوي سیده مخا مخ د سمڅې دیولونه خپل مخ ته کتلی شي( لنډ خپل مخ ته دسمڅ ډیولونه ګوري). یو وور رڼا ورکوي، چې هلته د سمڅې لرې برخه د انسانان شا ته بلیږي. د انسانان اود وور منځ کې – دا هم د دوي شاته- یودیوال، چې د هغې شا ته بیلابیل شیان وړل او په خوزښت راوړل کیږي، چې دیوال جګوي او هغه سمڅدیوال په څیر کتنه انسانانو ته د خوزنده سیوري په څیرځرګندیږي.

د دیوال شاته د دې وړنوغړونه او کشار یا کشپش دې پرلپسې د دیوال تړلو انسانانو سترګو ته مخامخ هم باید همداسې د سیورو پرمخوړلو یا د سیورو مخ ته وړلو په څیر باورولري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د د ې صحنې سره پلاتون موږ ته څرګنده ،، رېښتونی،، نړۍ له سمڅې دباندې د لمر په رنا کې په مخامخول یا تضاد کې راوړل یا کونترستونه kontrast کې راولي اود دې هنر کليمې له لارې موږ ته پوهوړکوي یا رابنايي، چې ولې فیلوسوفان رېښتياوالی، دا په دې مانا چې حقيقت ته نږدېوالی انساني احساس یا رښتيانيولي په پوښتنه کې راولي.

## د یوه فیلوسوف ادعا

د یوه فیلوسوف ادعا دا ده، چې خپل ځان اونړۍ ازماېښت ته اچوي یا ازمايي. شيان هم کوم چې زيات کسان يې د هرو مرو يا پخپله ترې پوهيدنې او ورکړل شوي ګوري، په فلسفه کې له سره پوښتل کيږي، د شک لاندې راځي او ازمايل کيږي- د بيلګې په توګه پوښتنه، چې ایا،، رښتياوالی،، یا ،،حقيقت،، په خته يا په رېښتونې داسې دی، لکه څنګه یې چې موږ رېښتيا نيسو. ،، موږ څنګه باوري کیدی شو، چې دا څه موږ ګورو، رېښتيا شتون لري؟،، ، یو فيلوسوف له ځان داسې پوښتي. داسې دې سوکراتس هغه خورا خوره شوې یا نوموتې یا مشهوره غونډاله هم ویلي وي، چې: ،، زه پوهيږم، چې زه نه پوهيږم،، - یو شعوري مخامخوالی(تضاد) دی، ځکه چې دی څنګه پوهيدی شي، چې دی د خپلې وينا له مخې بيخي نه پوهيږي؟

داسې فلسفي پوښتنې تل ستونځمنې دي او تل ګرانې یا دزړه پورې نه دي- دوي کسان په شک کې راولي او خپل نړۍ ليد په لړزه کې راولي. هغه رېښتيا پسې هڅاند انسان دې د سره یا پيله – زيات نارامه- ليد له لارې په نړۍ نوموتې ليدني یا مشاهدې(؟) لاس ته راوړي اوله دې لارې يو ،، ريښتيا هڅانده،، ، ،، حقانيت،، يا ،،ډېر ښه،، ژوندوکړای شي یا مخ ته بوزي.

### Der hermeneutische Zirkel: Das Ganze als Summe seiner Teile

هرمينوېتيکې ګردۍ(دايره): ټول د هغه د برخو زياتون یا جمعې په څير.

.

.................. ۴ ........

په داسې ترڅ کې چې يوګونې پوهنې د ټاکلو الاتو د پوهيدلو سره موخه-ور بوخت دي، هرمينوېتيک پخپله د پوهيدنې پوهنې سره بوخت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وی هرمینوېتیک د زاړه یوناني وی hermeneuein څخه راوتلی. دا کړنه یا فعل د ،، روښانول، وړاندې کولو،، - هرمینوېتیک له دې سره په لرې موخې یوه د وړاندې کولو لار ښايي.
دا هم یواوړده د خبرو څه دی، چې هرومرو به د لوستونکوله پاره په زړه پورې وي او د ن ج له لارې میندلکیدی شي.

## فلسفه څه شی دی؟

د فلسفې په هکله د اروپا د غوره فیلوسوفانو اندونه:

نه شي کیدی چې ،، فلسفې،، ته ټولیز باوري پیژند ورکړ شي، ځکه چې هریو ، چې فلسفې کوې یا -وايي، هغه هر یو د شیانو په هکله خپل اند ته وده ورکوي. له دې امله پورته کړلو پوښتنو ته نږدې دومره ممکن ځوابونه شته. لکه فیلوسوفان.

Carl Friedrich von Weizsäcker کارل فریدرېښ فون وایځیکر یوځل داسې ویلي یا فرمولبندي کړې: فلسفه پوهنه ده، چې په هغې څوک خبرې نه شي کړی، بې له دې چې دا پخپله مخ ته بوزي یا سرته رسولو هڅه وکړي.

اریستوتلس: – Aristoteles: *Metaphysik* I 2, 982 b 12

له دینونو ، دیني ټولنو او نړۍ لید څخه په بل ډول فلسفه د پورته ،، فلسفي،، یادشوو په کار اچونې بل ډول پوښتنو کې ځانله په هوښیارتیا تکیه کوي، دا په دې مانا چې راشنل یا فکري دلایلو، چې نور د مخه نیونې ( لکه د بیلګې په توګه په یوه ټاکلي مخ ته پروت درس یا پوهنه باندې عقیده) نه غواړي.

پای یادونه:

دا چې ما د مخه څوفلسفي اړونده لیکنې راټولې کړې وي، نو له دې امله دا لیکنه، خو:

د نورو پرمختللو ژبو په ویپانګو او لیکلتوان موږهلته پوهیږو، چې ورسره مخامخ شو اوخه ترې رانیسو. د دوي د ډېرډوله ویونوله پاره په زیات وخت کې په پښتو کې یوه مانا پیداکولی شو، خو موږدا د خپلې ژبې لوستونکوله پاره داسې چمتو کولی شو یا داسې باید چمتو کړو، چې پرې وپوهیدلی شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې لیکنې راټولونه اولیکنه-په ځانګړې توګه د غونډالو چمتوکونه- راته پوره له ستونځوډکه وه، هیله ده، چې ګران لوستونکي به یې له لوستلوسره ستونځې ونه لري.

زه خو مسلکي نه یم، کیدی شي یومسلکي کس دا په اسانۍ سره راټول اوولیکلی شي.

.

............ ۵ ................

ډاکتر ماخان میرې شینواری

## تیزې Die **These**

یادنه: ما چې زموږ د ځوانو لیکوالانو لیکنې د هیوپوتیزې په هکله ولوستې او ولیدې. دوی یې په فرضیه په پښتو یې نیونه ده، خو دا موږ ترې پوهیدونې فرضیه نه ده او له دې امله به داسې ویونه همداسې په خپله خټه لیکني پرېږدو او نه به یې پښتو کوو. دا یوه اوږده او څېړنیزه منځپانګه لري، چې موږ بیا دنورو ستونځو سره مخامخ کوي.

زه په دې اند یم، چې هغه زیات څه سره چې مسلکي وي او یا یې په پیداښتي توګه پښتو انډول نه شي پیداکېدی یعنې دا ویونه په خټه کې هم پیداښتي نه وي، نو هغه دې همهغسې پرېږدو او پښتو کوو دې یې نه.

تیزې Die **These** ( زړه یوناني کلیمه ده *thésis* θέσις المانی (Behauptung ، aufgestellter Satz یو ښوونیزه ِغوښتنه ( غوښتنه یا ثبوت، چې ښوول کیږي) یا یوه لارښوده غونډاله ده. مخامخ غوښتنه یې کیدی شي Antitheseانتیتیزې وي.

د مخه راوړنه: دا غوښتنه په لیکنه کې شوې وه، چې دلته څه زیاتیدی او کمیدی شي. دا مې ځکه ولیکه، چې دوی هم لا تراوسه

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ډېرو داسې پوهنیزو شیانو کې تل د نوي څه سره مخامخ کیدی شی، څکه دا ورته بسیا نه کوي.

پیژند: یوه تیزې یو اند یا فکر او یا یوه غونډاله ده، چې د هغې سمون یوې ښوونې ته اړتیا لري. د یوې تیزې لیکونکی رښتیاغوښتونی دی. که تیزې د ښوونې جوګه نه وي، باید دا وغورځول شي. په بل حالت کې کیدی شي په تیزې ودریږي یا تیزې کلکه ونیسي. په ټولیزه توګه یوه تیزې یوه وینا ده، چې له یوه ګډوله څخه هغه غوره له وینا څخه پراګماتیکي رامخ ته کوي همداسې باوري کیدو ته یې باید راوړي. که یوه تیزې ناسمه وي، نو نه شي کیدی چې کوم ډول ښوونه یې هم په دلیل ودانه کړی شي. د ښوونې تګلار هم د هغه اړونده ډول لارو په واک کې ده ( لاندې وګوری).

د یوې قضیې او تیزې منځ کې توپیر د وینا پوهنې په براګماتیکي چاپیریال کې پروت دی.

.......................... ۶ ..............

یوه کارتیزې یوه څغلنده ایښوولشوې یا منځ ته راغلې تیزې ده.

د تیزې، قضیې(تیورېم) اوتیوري منځ کې توپیر به اوس د یوې بیلګې په بنسټ انځورشي:

- تیوري یا نظریه: میکروایکونومیکي تیوري د او په کې یوګوني اقتصاد سره څان بوختوي.

- قضیه یا تیورېم: د میکروایکونومیکي د باورورشو تیوري په دننه کې فرمول شوې Coase د داسې نوموتې **Coase-Theorem** ( دا د میکرو ایکونومي بنسټیزتیورېم (بنسټېزه قضیه) دی). دا روښانه کوي، چې – د تیوري د ټاکلو شرایطو لاندې – مارکیټونه د افراطي افکتونو سره چلیږي (په ملي اقتصاد کې سړی د اکسترېم افکت externen Effekt ( دباندېوالی) لاندې د ناانډوله اېکونومیکي پرېکړو اغیز په نه-برخه لرونکو په نخښه کوي، نو اغیز، چې هغې له پاره هیڅخوک ( ښه یې : بې له هیڅ) پیسې نه ورکوي یا یو برابروالی لاس ته راوړي).

---

تیزې: اوس یو بل پوه(عالم) هم غواړي یوې باوري قضیې ته وده ورکړي اود دې له پاره یوه تیزې منځ ته راوړي، چې دا لومړی باید وښوول شي. که دا تیزې پخپله په څان کې پوهنیزه د منلو – نه منلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

( که غواړي: جنجالي) وي همداسې په منلو-نه منلو ( یا رښتیا-نارېښتیا) بنسټېنیونو ودانه وي، دا په لومړي ځل کې یواځې یا فقط داسې په نامه کارهیوپوتیزې ( هیوپوتېزې وروسته وګورئ) جوړوي.

د تېزې د وی یا کلمې تاریخ: دا د تیزې کلمه یا وی د انتیکې فلسفې زېږنده ده. په یوه دیالکتیکي خبرو اترو یا بحث کې دا کلیمه د پوښتوني اند انځوروي ( دا د XYZ حالت دئ او یا د XYZ حالت نه دئ)، کوم چې دی یو د بل سره خبرو یا مباحثې وختورشو کې وساتي یا ولري. په پوښتنه – ځواب –لوبه کې دا د پوښتوني څخه د پوښتنکونکي موخه ده، په هغه کې چې دی( پوښتنکونکی) هغه (پوښتونی) په مخامخ خبرو کې راګیر کړي یا راونیسي. له دې امله اریستوتلس په دې اند دئ، چې په دیالیکتیکي یود بل سره یا یود بل مخامخه خبرواتروکې سم اندیزه پایونه تمرین شي یا تمرین کړي. په دې موخه نو تیزې د یوې غوښتنې راوړنه ده.

کله کله تیزې د ډېرو له پاره یو اورلګیت دئ، لکه په ۱۵۱۷ ز کال کې د مارتین لوتر ۹۵ تیزې د هغه وخت د کلیسا په هکله ( په دې به نورې خبرې نه کوم، خودا به په یاد راوړم، چې دې تیزونو یواورد جنګ منځ ته راووړ).

ایمانول کانت په څلورو Antinomien der reinen Vernunft په سوچه رښتیا انتینومیو( که وخت وو،نودابه هم ولیکم. پوره په زړه پورې دئ) کې تیزې د انتیتیزې سره مخامخ کړه یا مخامخ ولیکله. کانت د دې له پاره دلیل راوړ، چې سړی تیزې همداسې انتیتیزې ښه مدللې کولی شي. له دې امله نشي کیدی چې تیزې او همداسې انتیتیزې سمې وي. له دې زیات سړی اړینډوله د هوښیارتیا په مخامخوالي یا تضادونو



کې راګیر کیږي، که دا په ارواح باندې، دا نړۍ په ټوله کې یا خدای(ج) (پسې) فکروکړي او د بیلګې په توګه د خپلواک غوښتنو( تیزې) یا د دیترمینیزموس( ټاکلتیا یا ټاکلوالي) Determinismus( انتیتیزې) دلیل راوړلشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- دیترمیناري، کره کونه، پولې اېښوونه، رابندونه(محدودونه)) داسې اند دی، چې ټولې پېښې – په ځانګړې توګه راتلونکي هم- د دمخه ورکړ شوو شرایطوسره یواځني کره – یا ټاکلشوي دي. مخامخ تیزې Indeterminismus)) په عقیده ده، چې ټاکلې پیښې شته، چې دوی نه یواځني د مخه ورکړشووشراطو له خوا ټاکلي دي، بلکه ناټاکلي دي.

یوهان ګوتلیب فیښتې Johann Gottlieb Fichte یې په مخامخ د ټولو پوهنیزپوهنو ( علمي پوهنو) بنسټ Grundlage der gesamten Wissenschaftslehre د سینتیزې له لار برابر د تیزې او انتیتیزې په مخامخوالو (تصادونو) کې لټول کیدی شي. فیښتې د تیزې، انتیتیزې او سینتیزې لوبه د کلیمو یا ویونو زه او نه- زه مخ ته کړه.

**Synthese** سینتیزې( یوناني: رایوځایکونه، یوځای ایښوونه، تړنه):

سینتیزې د دوه یا ډېرو توکو(جوړښتبرخې) و یوه نوي یوون یا یووالي ته یوځای-ایښوونه په نخښه کوي.

## Antithese انتیتیزې

دا د انتیتیزې وی یا کلمه په ټولیزه توګه یوې پیلغوښتنې ته یو مخامخغوښتنه په نخښه کوي. له دې سره دوه ویونه، کلمې، جمله- یا غونډالیبرخې یا غونډالې- یود بل سره مخامخ کیږي، چې په خوندیونه یا منځپانګه یا موخه کې یوبل ردوي.

.

پیژند: یوه انتیتیزې څه شی دی؟

په یو له بل توپیرېدونکو ښو او اووښتونو یا بدلیدونو یو ژبنیز پیداښت، په هغه لاندنی سطحه یا هواره، د دوه یوبل ردوونو ویناوو یو مخامخوالی دی. د نورمال ورځنیوویناو پرته یا څنګ کې له ټولو د مخه ورکړ شوي شعر کې را پیداکیږي، چې زیات وخت هلته ځای په ځای کیږي، د دې له پاره چې یوه خوندیونه یا یو څه غوره راوباسي یا راوتلي وښايي.

تنظیمکونه: دا چې انتیتیزې د اوکسیوم او چیازم پوښتنې-ځواب موادو سره خپلوانه ده، نواړیین بولم، چې په یوه جدول یا لښتکي

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې دوي سره مخامخ کړو،نو د دې دريو ريتوريکي موادو اود هغوي غوره پيژندنخښو ته اړتيا ده.

................ ٨ ...............

پوښتنه- ځواب(؟)..... بيلګه .........رامنځ ته کيدنه..... جوړښت

اوکسومورون ....بربنډې پټې خبرې..... کم ..........دوه مخامخويونه

........................................ زيات په لوريک، .. تړلي

.......................................... لړ په شعر کې......... يوبلپسې راځي

چيازم. ... نن لا نه ........ زيات په لوريک .... دوه جملبرخي همغه له سره

......... مګرهوسباته.....اولړ کله،کله په شعرکې... يود بل مخامخ پرلپسې راځي،

............................................................ خوندي وينا توانمنده کيږي.

انتيتيزې...اند غوښتونې ده......زيات............دوه مخامخ منځپانګې

............خو غوښتنه کمزورې...زيات په شعر،.. سره مخامخ کيري

................................... په لوريک هم.............

په پورته کې به يو څه لړ روښانه کړو:

## د انتيتيزې بڼې:

دا يوه لار ده، (نسبت استثن) و ځانګړنوالي ا ته يا دا يوه لار ده و ځانګړوالي ته، چې دا درې پيژندنخښې هممهال وکارولشي. دا چې وی انتيتيزې خورا ډېر خونديونې لري لکه دا خپلوان ويونه، کوم چې په لښتکي کې ښوول شوي، نو د انتيتيزې دننه- کاتيګوري ته اړتيا ده.

١ – ناسمه وينا د سمون سره

بيلګه:

تيزې: ورځ ښکلې ده، ځکه چې لمرروڼ بربښي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

انتیتیزي: دا ورځ خو ښکلي نه ده، پای یې(بالاخره) (ورینګي) وریږي.

دا چې لومړې وینا کې رښتیا نه ویل دي، نو په دویمه جمله کې د یوه سمون په مرسته رد شوه.

د غبرګوالي سره ګډوله کونه

بیلګه: په کینه کیدل یا قهرېدل لنډ دی، پښیماني اوږده ده.

( فریدریښ فون شیلر. زنګ)

..................... ۹ ..............

د غبرګونوالي سره شاعر غواړي خپله وینا لاندېکرښیزه(د لاندې یې کرښه راکاړي) کړي، چې دوه منځپانګیزې یوبلردوونکي شیان یود بل مخامخ ځای- په-ځای کړي.

۳ = ګډوله-کونه د چیازموس سره

بیلګه:

هنر اوږددی

او لنډ زموږ ژوند دی.

( یوهان ولفګنګ فون ګوېتې،فاوست کې)

د ژوند لنډوالي غمیزه شاعرلیدوړکوي د هغو شیانو مخامخ، کوم چې ژونداررښته او ښکلی کوي. له دې سره دی د دواړوتوکو منځپانګیزه وینا جګوالی ته رسوي. د دواړو بیتونو څلورلاریز –یا صلیبي ډوله ودانولو له دې سره د ویونکي غمجن حالت لاندېکرښیز کوي.

یادونه: لږ تر لږه په الماني ادبیاتوکې چې یووی یا جمله یا لنډ څه چې غوره وي، له دې څخه لاندې کرښه راکاړي، چې ما دې ته لاندې-کرښیز یا لاندېکرښه کیدونکي او...ویلي. تاسو یې چې هرډول بولی.

ډاکتر ماخان میږی شینواری

# Hypothesis هیوپوتیزې

## د مخه راوړنه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما خپله لیکنه د الماني ادبیاتوځخه رانیولې او له دې امله به نومونه
هم له المانی رانیول شوي اویا الماني وي.

زموږ ستونځې دا هم دي، چې موږد ډېرو مسلکي لاتینویونوسره
بلد نه یو او داسې په سم اندیزډول یې هم نه پوهیږو، موږیواځې
داسې نږدې انډول ورته ټاکلی شو او یا شننیزه روښانه-ونه یې
ورکولی شو. ځنې
مسلکي د مانا ډک ویونه دي، چې په عربي ( په بخښنه په عربي
مې ځکه ولیکله، چې موږدا سې ویونه تل په عربي ژباړو) ژباړه یې
ناشونې او ناموخه-وره ده. داسې نومونه باید که روښانه نه وي
روښانه شي اوهمهغسې وکارول یا راوړل

............ ١٠ ...................

شي. دا په ټولو پرمختللوژبوکې همداسې دي اوژباړه یې د یوه وي
سره نه کیږي، دا یواځې روښانه کیدی شي، چې یوه بیلګه یې
هیوپوتیزې ده.

د پوهنیزو، داسې ویونو د ښه پوهیدنې له پاره، چې روښانه – ونه یې
په یوه پښتو انډول وی نه کیږي او باید روښانه شي، زما ورانديزدا دی،
چې دا دې ځانله ،خانله وڅیړل شي او چې د یوې څیړنې له پاره دبل
وی پوهیدنه اړیینه وي، هغه وی دې هم همدلته ورسره مل او لنډ
وڅیړل یا روښانه شي

دا ټولې خبرې اوړدې څیړل دفیلوسوفانو اوژبپوهانو کار دي، زماله پاره
یې لنډه اړیینه روښانه ونه بسیا کوي.

## هیوپوتیزې

یوه هیوپوتیزې (زړه یوناني او پسې لاتیني څخه ده، الماني
**Hypothese** انګرېزي *hypóthesis* ) د یوې سم اندیزې وینا په بڼه
فرمولبندیزه نیونه ده، چې سمون یې سړی شونی یا کیدونی نیوی یا
بللی شي، چې دا لا تراوسه ښوول شوی همداسې verifiziert (١)
نه دی . هیوپوتیزس باید د هغه له لاس ته راوړنو په بنسټ د ازمایلو
وي، چې هغه د لاس ته راوړنې پسې یا له امله ښووالکیدی - ....یا

(c) ketabton.com: The Digital Library

رد کیدی شي. د هیوپوتیز د فرمولبندي کولو له پاره ورځنۍ یا مروجه ده، چې شرایط ورکړلشي، چې د هغو لاندې دا باور لرودی شي. دا د یواځني سماندیز اړیکو سره کیدی شي، په لاندې توګه:

،، تل که....، نو ....،،

( ۱ ) وریفیکیشن Verifikation د یوه ګومانی یا غوښتوني شیحالت ښوونه ده، چې رښتیا وي ( نوره روښانه-ونه هم لري،خوزموږله پاره دابسیا کوي).

هیوپوتیزې Hypothese د پوهنیزو کارونو په چوپړکې ده لکه د بچلر، ماستری اوډاکتری تیزسونه.

یوه هیوپوتیزې یوه اړوندوالی، یوه نیونه همداسې یو ګومان دی.

دا پورته یاده شوې ،، نیونه،، په دې مانا نه ده، چې د هیوپوتیزې انډول دې په عربي فرضیه وي، چې پښتو انډولی یې نیونه ده.

د هیپوتیزې بیلګې:

....... ۱۱ .......................

هرڅومره چې دفتر تیاره وي، تر هغې همکاران تولیدوونکي یا جوړونیکي دي.

دا یوه هیوپوتیزې ده :

هیوپوتیزې ته د دوه شي ځانیونو یا - حالتونو منځ کې د لار سره سم ګوماني اړوندوالي وایي( افاده کوي). دا د پوهنیزو پرابلم انځورولو کارونو یو څه وختیز ځواب دی.

هیوپوتیزس د پوهنیزو کارونو کره برخه نه ده. هر پایکار د کشف پوښتنې ته اړتیا لري، په داسې حال کې هیوپوتیزې ته هغه وخت اړتیا پیښیږي، چې پخپله یو تجربوي کشف (څیړنه؟) کوي.

هیوپوتیزس د یوه خپلواک اووښتونې(مجهولې یا واریابلې) – سرچینه –اویوه بلواک اووښتونې – ګوماني اغیز دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هیپوتیز بیلګې:

چې دفتر هرڅومره کړکۍ لري، همهغومره همکاران تولیدوونکي یا جوړونکي دي.

خپلواک اووښتونې

د کړکیو ګڼون( تعداد)

بلواک اووښتونې

د همکارانوتولیدوالی یا جوړښتوالی.

## د هیوپوتیز ډولونه:

دوه ډوله هیوپوتیزس شتون لري: لوریزې اونالوریزې هیوپوتیزس.

نالوریزه هیوپوتیزې

د نالوریزه هیوپوتیزې سره ته په ریښتونې تصدیقوې، چې یواړوندوالی شته، مګرته لور نه کره کوي.

د نالوریز هیوپوتیزې بیلګه:

د کړکیوګڼون د همکارانو په تولیدونې یواغیز لري.



لوریزه هیوپوتیزې

د دې په خټ یا مخامخ په لوریزه هیوپوتیزس کې په دې اړوندوالي یوه لورشته. د بیلګې په توګه: مثبت یا منفي.

د لوریز هیوپوتیزې بیلګه

د کړکیو ګڼون د همکارانو په تولیده-ونه مثبت اغیز لري.

لوریزې هیوپوتیزې د پوهنیز کارله پاره زیات وخت موخه- ورې دي، ځکه چې دوي ویناتوانمندې دي اویوجګه تجربوي خوندیونې لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ایا ستا پایکار (پاکارګوره د کار پای نه دی) یا د کارپای بې له ناسمون دی؟

د منځ-ارزښت له مخې یو پایکار په هرو زرو ویونو کې ۱۵۰ ناسمونه لري.

په تجربوي پوهنه Empirische کې هیوپوتیزې د نیونې ځای لري، هغه چې په ورځنۍ توګه د ډېدوکتیو- نومولوجیکي مودل پسې باید وازمایل شي. له دې سره لیدل شوي داتای باید په هیوپوتیز وکارول او وازمایل شي او لیدلې پیښې یو د بل سره سروخوري یا یوغږې شي. که سرهیو غږې شي، نو له دې سره هیوپوتیزې باوري کیږي یا باوري ده.

---

**یادونه یا روښانه – ونه:** ډېدوکتیو-نومولوجیکي مودل das Deduktiv-nomologische Model( لنډ:DN-Model) د یوه کوزال (Kausalität د بنسټ یا سرچینې اواغیز منځ کې اړیکې) د ګډو اړیکویونو د پیداېښتي ژبې له لارې د پوهنیز روښانه - ونې فورمال جوړښت دی.

**یادونه: دا تجربوي پوهنه د نیونې ځای نیسي،خونیونه نه ده.**

---

په یوه سم اندیزه (منطقي) خبرواترو کې یوه هیوپوتیزې د یوه دلیل نیونه( فرضیه (زړه مې نه غواړي، چې په نوکانو یې ورسره ولیکم)) ده، چې د هغې رښتیاوالی لومړی په نوکانو کې رابند شي.

په شمیرپوهنه کې:

په شمیرپوهنه کې د هیوپوتیز کلمه په سرچینه کې ناښولې بنسټونه په ګوته کوي یا ټولیزپرنځیپونه، له کوموچې شمیرپوهنیزې غونډالې یا جملې راوځي یا رابیلیږي. دا چې دا پرینځیپونه د اکسیوم په څیر کارولکیږي، د دې له پاره د رښتیا شرط نه کارولکیږي. دا لار یا قانون دی. له دې سره تړلي پایلاسته-راوړنې ډېدوکتیو دي.

.................. ۱۳ ................

دا د ابسترکشنAbstraktion وی د یوګیزوالو لرې کول یا پرېښوول یا ترې تیرېدل او یوه ټولیز یا ساده ته یې بیول زیات وخت د ایندکتیو اند

(c) ketabton.com: The Digital Library

پروسه په ګوته کوي. د دې په څنګ کې ددې کليمې ځانګړې کارونې يا استعمال په ټاکلو يوګيزو پوهنو اويوګيزوتيوريو کې شته.

دېدکشنDeduktion ، دېدکشني متود يا دېدکتيوي پايونه هم، په فلسفه او په سم اند کې د ورکړلشوې نيونې ( پرېميسPrämissen ) يوې پايون-لاسته راوړنه ده په سم انديز اړيينه نتيجه. دېدکشن همغه د ارستوتلس په زمانه کې پايونه پيژندل شوې وه د ټوليزڅخه په يويز (ځانګړي) ، دا په دې مانا چې د خويونو ميراث، چې د يوه ګروپ ټولغړييې لري، په يوه اصلي برخډېرۍ( سبسټ) او يوګونو توکو ته هم وړل کيږي. اريستوتلس انکلوسيون د ټوليزوويناو لاس ته راوړنه له يوګونحالتونو خيږنو، او ابدکشنAbduktion يا اپاګوګېApagoge مخامخ، کره کونه، دا چې ټاکلي يوګونې يا يويز حالتونه د يوې ورکړ شوې يا تراوسه کشفکوونکې ټوليزې لارې (قانون) لاندې راځي.

پايونه په خورا ښه روښانه-ونه يو ابدوکتيوabduktiv پاي دی، چې د هغه سره يوه ټاکلې هيوپوتيزس د نورو هيوپوتيزسو په مخامخ ځانګړې يا اعلا وګڼل شي.

ابدکشنAbduktion : يوه مخ ته پل يا کړنه يا مخ ته تګ دی، چې په هغه کې تشريحي يا شننيزه هيوپوتيزې جوړيږي.

## د کانت د هيوپوتيزې سره د حکم ښه:

د المان فيلوسوف امانول کانت په خپل د قضاوت کريتيک کې څلور تلنارې د تيورتيکي ښوونې له پاره توپيروي.

١ – سمانديز په سختۍ پايلاسته-راوړنه ( دبيلګې په توګه د دېدکشن له لارې).

٢ – د انالوجي يا ورته- والي کارونه

٣ – رښتياوالي اند

۴ – هيوپوتيزې د ممکنه روښانه-ونې بنسټ يا دليل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ده له انده په رېښتونې هیپوتیزې لومړی فقط یو له څلورو امکاناتو
دی، چې یوه ښوونه پیدا کړي، خو دی د یوې هیپوپوتیزې سره لږځه
غوښتنه وړاندې کوي، ،، له دې باید لږترلږه د امکاناتو پوره ډاډ وي،،.

په قانون یا قضا کې هیوپوتیزې په یوه شرطي جمله کې فرمول بندي کیږي.

................... ۱۴ ................

په دې کې دا جوړښتونه خوندي دي :

که X ، نو Y

یا هم هر څومره X ، همغومره Y .

هیوپتیزې پوښتنې نه دي، بلکه ویناوې دي. وهڅیره، چې دا داسې ټیک فرمولبندي کړي، چې شونتیا یا کیدنوالی یې وي.

بیلګه د که – نو- فرمولبندي

که په دفتر کې زیاتې کړکۍ شتون ولري، نو همکاران ډیر تولید کوي.

بیلګه هرڅومره – همغومره – فرمولبندي

چې هرڅومره ډېرې کړکۍ چې دفترکې شتونولري، همغموره هکاران ډېر تولید کوي.

## د هیوپوتیزس ازماېښت:

که تا یوه هیوپوتیزې چمتو کړې وي، باید دا اوس وازمایې او د هغې په رښتیا ارزښت یې هم وازمایې.

- که انتظارمو رښتیا شي، کیدی شي اړونده هیوپوتیزې رښتیا وپیژندلشي.

- د دې مخامخ که انتظار مو رښتیا نه شي، نو هیوپوتیزې، چې ویینه یې( افاده شوې) شوې ناسمه وپیژندل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د Verifikation مخامخ Falsifikation: ناسموالي پيژندونی يا ناسموالي پيژندل د يوې وينا ناسموالي ښوونه، دا په دې مانا چې يوه ويناد ښوونې له لارې ناسمه راوځي.

## روزنكشفونه  يا روزنمیندنه.

---  ،، كه هرڅومره ډېر زده كوونكي په ټولګي كې وي، همهغومره د زده كوونكو د زده كولو توان ټيټيږي،،.  ،، كه درسخونديونه د ازمويينې له پاره نه وي، نوزده كوونكي دا درس زر له ياده باسي،،.

.............. ۱۵ ................

لومړی نيونه د ټولګي لويوالي  اوزده كوونكو اود زده كوونكو توان اړوندوالي په يوه لور د هرڅومره – همغومره – وينا په ګوته كوي. دويمه د كه – نو – وينا يو شرط وركوي.

## د هيوپوتيزې ستاتيستيكي ازماېښت

ته امكانات لري، چې هيوپوتيزې ستاتيستيكي و ازمايې. د دې له پاره ته يوه صفر (H0) هيوپوتيزې او يوه مخامخ تيوپوتيزې (H1) ليكې.

بيلګه H0 :

د كړكيو ګڼون د همكارانو په توليد يواغيزنه لري،

بيلګه (H1)

د كړكيو ګڼون د همكارانوپهتوليد يو اغيز لري.

صفر هيوپوتيزې له دې مخ ته ځی، چې كوم اړوندوالی نه شته او مخامخ هيوپوتيزې بايد و ازمايل شي. ستا مخته يوه لړی ستاتيستيكي هيوپوتيزازماييني مخ ته پرتې دي، چې هيوپوتيزې فريفيڅير كړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## په افغنستان کې د روغې راتګ

راځئ لنډ په ګډه د هیوپوتبزو په مته وخیرو، چې په افغانستان کې روغه څنګه راتلی شي؟

دا څه چې موږ دلته څیړو، دا به یو لنډیزوي، چې د پوهنیز کارخوندیونه دې هرومرو نه وي، خوهغه کار به په داسې هیوپوتیزو ودان وي.

د دې له پاره هیوپوتیزې راوړو او رښتیا یا سموالی یا کیدنوالی یې بیا ښایو.

لومړی: که طالبان او دولت سره خبرو ته کینې، نو روغه راځي.

دویم: که طالبان او امریکا سره خبرو ته کینې، نوروغه راځي.

............ ۱۶ ..............

لومړي حالت ته: که د طالبانو اودولت همغږی سره امریکا همغږې نه وي، نو روغه نه راځي.

دویم ته: که د امریکا اوطالبانو سره حکومت نه وی همغږی، نوروغه نه راځي.

اوس دې نوې هیوپوتیزې ته:

دریم: که طالبان،حکومت اوامریکا خبرو ته کیني، نوروغه راځي.

دریم ته: که دا همغږي منځ ته راشي- بښله کوم زور- نودا بیا پخپله روغه ده.

څلورم: که حکومت پرته له نورو افغانې ډلو له نمایندګانوسره طابان وګورې، نو روغه منځ ته راځي.

دا هم ځکه نارښتیا ده،چې:

یو : که حکومت ورسره همغږی نه وي، روغه نه شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوه: دوي د افغانستان خلکو ته مسئولیت نه لري، نو کیدی شي څه چې کوي یواځې د ځان په ګټه به یې وي.

دوي له دې امله د روغې پروسه کې فعاله ونډه نه شي لرودی.

## پوهنیزه تیزې Wissenschaftliche These

په پوهنتیوري کې د تیزې بڼه هیوپوتیزې ده.

یوه پوهنیزه تیزې یوې ځانګړې لا رې ته نه ده اچول شوې.

د دې له پاره چې په پیداښتپوهنه کې د تیزې منل په پوهنیزه چاپیریال کې جګه کړو، باید تیزې

- یو روښانه او ټیک پیژندل شوی حکم یا پرېکړه وي،
- ناسمښوونیزه وي،
- د خپلې انځوروني په ترځ کې کټمټ پاتې شي،
- هیڅ بله منلشوې تیزې رد نه کړي،



- هیڅ بله منلشوې تیزې رابنده یا محدود نه کړي،

سم اندیز مخامخ ونه لري یا خوندي ونه لري.،

- د پسې ازماېښتوړ واقعیت باندې ودانه وي،

یوه بیلګه یې د نیوتن د خوزښت له تیوري څخه د کپلر لار یا قانون دی د ستورو ګرځنلار( قضیه).

په فرانسه کې تیزې د ډاکترۍکار( Dissertation (*thèse de doctorat* ته وایي ورته نړدې لکه تیزس *thesis*انګلستان،المان اونور ژبوکې.

## هغه کلیمې، چې داسې لړ روښانه-ونه یې اړیینه

### Stilmittel د خبرو له پاره د خبرو مواد:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژبه کېږی شي ډېر ریتوریکي خبرمواد (د خبرو مواد) ولري، چې له هغې ګټه اخستلی شو د دې له پاره ویونه چې په ژبنیز جوړښتونو کې ورکړل کیږي. دا لږ ستونځمنه ده، چې شعرشننه او کورکارکې دا متمئن موخه-ور وټاکو.

ژارګون Jargon **یوه ځانګړې ژبه همداسې وینا- یا ویینډول په نخښه کوي.**

ریتوریک **Rhetorik** د خبرو هنر

## Oxymoron اوکسومورون:

اوکسومورون د یوه خبرموادو(خبرو مادو) په څیر ، په ټولډولونو لیکنو کې کارونه میندلی شي. له دې امله ځانله په لوریک رابند نه دی، بلکه اپیکي اودراماتیکي کارونو کې هم میندل کیږي.

**Paradoxon**: زیات وخت پارادوکسون د اوکسومورون سره بدلیږي(،، زه توانمند یم نسبت هغه خورا توانمندته،، هغه بیعقله دی و هغه ډېربیعقله ته،، ، ،، یواځنی تل پاتیکیدونکی بدلیدنه ده،،)، د دې مخامخ دا اوکسومورون ویونه په برکې لري، چې د خوندیونې یې یوبل ردوي(،، بې وینې تویولو جنګ،، ، سوله ییز انقلاب،،.

اوکسیومورون له خبرو او ورځنی

دا لږ ډېر دي

١٨ .............

دې ډک یا زه غریب کېږم

دا بیړه له تلوار سره

تور سپین

کونتردکشن ادیکتو د اوکسومورون په څیر

خوښي درد

تور شیدې

ګرده څلوری(مربع)

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګونګې چغې       یا

بې غږه چغې

**چیازم: Der*Chiasmus***

چیازم  خبروموادِ (د خبرو ماده یا مواد) دي، چې موږ ورسره په لوریک کې مخامخ کیږو. دلته برابر ارزښته ویونه، برخغونډالې یا غونډالې په ټرلیپرلپسې ډول چلیپاډوله یا څلورلاریز سره مخامخ تنظیمیږي. دا په دې مانا، چې چیازم د دې توکو  یوه  څیره – هندارونیز نظم دی.

ماته ژبه کرانه ده   ګرانه ده ژبه ماته

دا یې هغه چلیپا - یا اټیران ډول لیکنه یا که غواړې څلورلاریزه لیکنډول

ماته ژبه کرانه ده

ګرانه ده ژبه ماته

پای یادونې:

- په دې لیکنوکې زیات ویونه راځي، چې په پښتو مانا یې ستونځمنه ده او روښانونه غواړي. زه به وهڅیږم یا هڅیدلی یم، داسې په یوه یا څو لیکوکې یې داسې لنډه روښانونه او پیژند ولیکم، خوزیاته شننه به ورسره نه وي، ځکه، چې دا هریو وی په خپل ځان کې یوه پوره لیکنه ده.

- ځنومسلکي ویونومانا کولوکې به دا ستونځې وي، چې ټیک مانا یې نه شو ورکولی یا نه ورکول کیږي، خوروښانه به یې کړواویا به ورته نږدې ګډوله-وی وکاروو.

.................. ۱۹ ...................

- زه خو د داسې لیکنوسره نوی یم، خو باور وکړی، چې هره غونډاله له الماني په پښتو انډول لیکم، خوند ترې اخلم.

- هره ریښه یو ځانکړی خوند لري او څوک چې له یو څه سره داسې لړ په اړیکو کې راځي، نو نوره مینه یې هم ورسره پیدا کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- زه پوهیږم، چې زموږ ډېر هیوادوال له ماخخه په دې ښه پوهیږي اوډېر څه به یې لیکلي وي، خوهر څوک یوه د لیکلوځانګړې لار لري، چې دا په پوهنه کې پخپله یو مړښت دی.

- زه چې موخه-ورې غونډالیراټولوم یا د همغږهې لیکنې راژباړم، نو کوښښ کوم، چې منځپانګه یې راڅخه خرابه نه شي او دا کار پوره ستونځمن دی. که غونډالې کله،کله دپ،هیدنوستونځې لري بخښنه به راته کوی.

- زما بله ستونځه داده، چې دا هرڅه په پښتو ولیکم، نو دا هم یوساده کار نه دی، ځکه ژبه مو د ډېرو شیانو اوپه تیره بیا په پوهنه کې نابلده ده.

راټولوونکی: ډاکتر ماخان میری شینواری

،،Die **Antinomien der reinen Vernunft**

## د سوچه هوښیارتیا یا فکرتوان انتینومي،،

د ایمانوېل کانت لیکنه.

یوه د مخه راوړنه:

۱ - ما په یوه د مخه لیکنه کې دتیزې او انتیتیزې باندې خبرې ګړې وي او هلته د انتینومي وی یا کلمې سره مخامخ شوم، لړورته کونجکاوشوم، ومې غوښتل،چې دا هم ګرانولوستونکوته له الماني پښتوکړم. نه پوهیږم، چې موږبه څومره ددې ،،د کانت،، د لیکنو سره بلد یو، خو زه ورسره سوچ بوچ نویوم، نو ماته یې له دې امله په پښتوکولوپوره ستونځې جوړې کړې، ډېروهڅیدم، چې خپل د لیکنې اوژباړې هنرڅخه کار واخلم، خوبیا هم نه پوهیږم، چې څومره به مې پوهوړ لیکلي وي. تاسو درانه فلسفیپوهان دې مرسته وکړي، چې دا زما نیګرتیا پوره کړي اوکه هر ډول مو خوښه وه.

۲ - زما له پاره دا فلسفي مسلکي کلیمې یا ویونه په پښتو هم پوره ستونځمن دي یا وو، هیله مې ده، چې داسې نیمه نیمخوره به مې یا لړترلږه د پرې پوهیدنې پښتوکړي وي، دا په دې مانا، چې پښتو اېدول به یې ورنږدې وي، چېموخه ترېوپوهیدلی شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳ – زه مسلکي نه یم، خودا چې دا د تیزې او... تر انتینومي پورې خبرې اترې مې خوښې شوې، ومې غوښتل ګرانو هیوادوالو ته یې وړاندې کړم، هیله ده، چې که داسې نورې لیکنې مولوستلې وي، دا مو هم داسې لړخه دپام وړ وګرځي.

## ،، د سوچه هوښیارتیا یا فکرتوان انتینومي،،

د سوچه هوښیارتیا انتینومي( یوناني انتی،، مخامخ،، نومي ،، لار یا قانون،،) د هوښیارتیا یا فکرتوان پوښتنې ته سم اندیز یا منطقي ردوونکې ځوابونه دي. ایمانوېل کانت دا د سوچه هوښیارتیا کرتیک په ترانسځندنتالې دیالیکتیک کې و ځیړلې یا خبرو ته را واچاوه.

der *Kritik der reinen Vernunft Transzendentalen Dialektik*

(Vgl. Immanuel Kant: AA III, 281–382)

د سوچه هوښیاتیا کریتیک په همغه د مخه د لومړي چاپ په وینا کې کانت لیکي:

،، د خپلې پیژندنې په ډله کې ( هم اندیزه ډله) انساني هوښیارتیا یا فکرتوان یو ځانګړی برخلیک لري:

دا چې دا( یعنې هوښیارتیا یا فکري توان) د پوښتنوله لارې زوریږي، هغه چې دی ( دا فکري توان یا هوښیارتیا) یې نه شي ردولی: ځکه چې دی له پیداېښته پخپله هوښیارتیا یا فکري توان له هغه نه شي تیرېدلی، چې ګوندې دا هغه ته ځواب نه شي ورکولی، ځکه چې د ا د ټول انساني هوښیارتیا یا فکریتوان له منځ پانګې اوړي.

د کانت له مخې اړیینډوله هوښیارتیا یا فکرکولتوان دې ته مائل کیږي، چې زموږ د خیال او قضاوت یو رایوځای شوی - یا راټول شوی یووالی ولټوي، چې له دې سره د پیژندنې د باوریکیدنې ورشو پراخه کړي. له دې سره دی د اصولو (پریخیپ) یا فکر(ایدې) یا نظر قضاوت ته راهځوي، چې دا د ممکنه تجربو ورشو پرېږدي:،، ترانسځندنت قضاوت،،. دا چې یو سوچه فکري توان یا هوښیارتیا له تجربې د مخه شتون لروده، چې د دې قضاوت توان له مخه لري، نویواځې د فکري توان یا هوښیارتیا، ردکیدونکي یا انتینومي او ناسمون، چې له دې سره منځ ته راتلی شي، رابرسیره کړي(راځرګند یا رابربنډ کړي).

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې پيژندتوان – يا هوښيارتيا کريتيک ،، د سوچه هوښيارتيا يا فکرکولتوان،، يوه برخه جوړوي ، چې د يوې ،، ټوله نړۍ،، فکر د يو شي يا مضمون په خير لري.

## يوګونې انتينومي

د کانت له مخې يوګونې ،، ردونخبرې يا ردونبحث،، يا انتينومي د تيزې او انتيتيزې په بڼه په لومړۍ سر کې يود بل مخامخ ايښوول کيږي يا راوړلکيږي. له دې پسې بيا د تيزې او انتي تيزې له پاره يوه ښوونه سرته رسولکيږي. په ښوونه کې هروار يوه يادونه تړلکيږي

.............. ٢١ .............

يا راوړلکيږي، چې د ردونې منځ ته راتلنه روښانه کوي او د هغه اوبيونې يا حل وړاندې کوي. دا د کاتيګوري سرليک پسې ځي يا تعقيبوي.

تيزې اوانتيتيزې يې دي:

Antinomien der reinen Vernunft nach Kant (B454ff)

د سوچه هوښيارتيا يا فکري توان انتينومي

)د کانت له مخې يا اند يې (اوبيونه يا حل:

دا يو د بل سره مخامخ دربدلې تيزې او انتيتيزې د کانت له انده له تيزې او انتيتيزې څخه د کومې په ګټه پرېکړه نه شي کولی .د دواړوله پاره يو دليل پيداکيدی شي، چې د کانت د منلي قانون يا لار له مخې د ټوليزسم اند يوه اړيينکيدونکې څرګندېدونکې ښوونه ورکوي .دا چې يو د بل ردکيدونکي اړيينکيدا رامنځ ته کيږي، کانت له انتينومي

(c) ketabton.com: The Digital Library

غږيږي .د هوښيارتيا يا فکرتوان ناسمه کارونه په ورځني ميتافزيک کې د کانت له انده د يو د بل ردکوونکو قضاوت(پرېکړې) کونې)ميتافزيک کريتيک دې وکتل شي (په ګوته کوي

دا پورته راپورته شوې پوښتنې د کانت له اند يواځې د ترانسخندنتلفلسفې له لارې اوبی کيدی شي:

.

............. ۲۲ .....................

که هوښيارتيا د پيژندنې دواړه سرچينې، پوهيدنتوان Verstandاو احساسيدنوالی Sinnlichkeitپه پام کې ونيسي اودهغو هره برخه سره توپيرکړي، نوسړی په پام کې راوړی شي، چې دا وی،، نړی،، په تيزې، انتيتيزې او ښوونو کې، زر تجربوي د را ټولې شوې کليمې يا وی د ټولبرېښيدونکو څرګندېدنو ،زر،، اينتلکتول،، د ټولو الاتو د يوه سيستم په خير وکارول شي .بې له دې يو د بل له بدليدونو سره د دواړو انتينوميو تيزې او انتيتيزې په برابرډول ناسمې انځوريږي، د دريمې اوڅلورمې انتينومي ممکن دواړه د نړی-کليمې د همغه يوه څخه د دواړو کارونډول رښتيا راووځې .د دريم داسې په نامه خپلواکوالي انتينومي کانت ته اجازه ورکوي، چې په خپله کارنده يا عملي فلسه کې ازادي د پوستولات )Postulat،، تل رښتيا وينا،،.وينا چې تل رښتيا نيولشوي وي يعنې تل رښتياوي (په خير رامنځ ته کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له دې پسې راړنه:

ځنې ويونه، چې ګومان مې دۍ اړيين وي، دلته داسې لړ د پيژند له مخې يا سره روښانه کوم.

:Postulatوينا چې تل ربښتيا نيولشوي وي يعنې تل ربښتياوي.

کاوزاليتي Kausalität

..... ٢٣ ............

کاوزاليتي Kausalitätپه ټوليزه توګه په ژبکارونه او همداسې فلسفه کې د سرچينې او اغيز اړوندوالى په نخښه کوي، کوزاليتي ته سنونوم ،،سرچينه-والى،،.

ساده بيلګه:

دا چې ورښت ورېدلى دۍ، سرکونه لانده دي.

کتنه يا ژورکتنه : Einsichtکتنه يا ژورکتنه دې په ورځنې ژوند کې دا وي، چې د يوه شيورشو خويونه، اړوندوال او اړيکې ذهني ټيک وپيژندل شي، فکري راونيول شي او شي ډوله سم وپوهيدلى –واخستل –يا ومنل شي.

پيژندنه:Erkenntnis

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پېژندنې Erkenntnisوي له پاره یووالیز پیژند نه شته .په لومړي راتنګ -یا نزدېوالي کې کیدی شي پیژندنه )اېرکنتنیس (د پروسې او لاس ته راوړنې د یوه د کتنې یا تجربې له لارې ګټلې پیژندنه وښایو یا په نخښه کړو.

پیژندنتیوري )۱ Erkenntnistheorie (د فلسفي بنسټورشو ده، چې د زده کړې یا پوهیدني له پاره پوښتنې د نیونو له لارې، د پوهنې او د باوري کیدنو منځ ته راتلونکې نورې بڼې په بر کې نیسي.

...... ۲۴ .............

له دې سره دا هم څېړل کیري، چې څه اخلاق او څه )ځان ته (رواکول څه سرته رسوي او د ګومان څه ډول د باوري کیدو په کوم ډول لیدوړ منځ ته راتلی شي.

)۱ (پیژندنتیوري او نه پیژندتیوري .دا دوه سره بیل څه دي.

ترانسځندنتلtranszendental

ترانسځندنتل) transzendentalلاتین *transcendere*له پولې ،،اووښتنه،، (د پیژندنتیوري اړوندوالي د تجربو په )نسبت (کارول کیږي ـ دا په خیال کې راوړنې یا پیژندنې له مخې، کوم چې د ایمپیري تجربو له لارې لاس ته نه شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

راوړلکیدی، د هغه باوریوالی مګر باید ونیولشي، چې د دې سره رښتیاخوندیونه ولري او له دې سره پیژندل او پوهیدل شوني یا کیدوني وي.

د انسان فکریتوان پانګه، چې کتنه یا مطالعه یې لاس ته راوړي، اړوندوالی وپیژني، چې یو شی ونه ګوري یا پام ته رانه شي، یو قضاوت په وکړی شي او پسې یوې کړنې پسې مخ کړي یا ځان لوریز کړي.

.

............... .۲۵ .....................

د هوښیارتیا**Vernunft**یا فکري توان وی په خپل نوي کارونه کې یو د فکر له لارې ټاکلې انسانی فکري توان geistigesانساني پیژندنې ته بډایي په نخښه کوي یا بولي.

## د سوچه هوښیارتیا یا فکري توان انتینومي

## دوېمه برخه/ ایمانوېل کانت

د کانت سوچه هوښیارتیا انتینومي کې دا لاندې د کانت تیزې او انتیتیزې په یوه لښتکي کې وې اوهغه په لومړی برخه کې له تاند درنې پاڼې څخه په چاپ کې نه دې راغلي.دا دی چېپه ځانله توګه تاسوته وړاندې کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## تيزې اوانتيتيزې يې دي:

Antinomien der reinen Vernunft nach Kant (B454ff)

## د سوچه هوښيارتيا يا فکري توان انتينومي

| ګڼه | Theseتيزې | Antitheseانتيتيزئ |
|---|---|---|
| ۱ | ،، نړۍ په وخت کې يو پيل لري، اود فضا له مخې په پولوکې رابنده ده.،، | ،،نړۍ پيل نه لري، او په فضا کې پولې، په ځانګړې توګه هم د وخت په ليد او هم د فضا له مخې،ناپای ده.،، |
| ۲ | په نړۍ کې يو هر يوځای شوی شی له ساده برخو جوړدی، اوهرچيرته دا شته نه د ساده په خير، يا دا، څه چې دې يوځای شوي دی.،، | ،،په نړۍ کې هيڅ يوځای شوی شی له ساده برخو جوړ دی( په نړۍ کې يوځای شوی شی له ساده برخو نه دی جوړشوی)، او هر چيرته په انځورونه کې نه-ساده شته( ساده نه شته).،، |
| ۳ | ،،د پيداېښتي لار(قانون) له مخې کوزاليتي يوګونې يا يواځنی نه ده، له کومې چې د نړۍ ځرکنديدنه رابيليدی شي. يوه بله کوزاليتي د خپلواکی له لارې د همغې روښانه- ونې د نيونې له پاره اړيينه ده.،، | ،،خپلواکي نه شته، بلکه په نړۍ کې هرڅه ځانله او ځانله د پيداېښتي لارو يا قوانينو سره پيښيږي.،، |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| ۴ | ،،په نړۍ کې یو څه شته، کوم، چې د هغې برخه یا د هغې سرچینه ده،اوساده یو اړیین شتون دۍ.،، | ،،هرچیرته ساده نه اړیین شته شتون لري یا شته، نه په نړۍ کې اونه د نړۍ دباندې، پرته د هغه له سرچینې.،، |

## نیونه، غوښتنه، ښوونه:

د دې نومونو سره موږ تراوسه بلد یو: فرضیه، ثبوت،ځواب یا ښوونه.

دا ویونه، چې زه یې دلته اوس د ګرانو لوستونکوسره شریکوم، زیات په شمیر پوهنه کې کارولکیږي، خو په ورځني ژوند او نورو پوهنوکې هم ورسره مخامخ کیږو.

زه زما لیکنې له الماني څخه راژباړم. زه باوري یم، چې له مانوړ تکړه کسان شته، چې دا کارښه کولی شي، که دوي یې پخپله نه کوي، نوهیله ده، چې لږترلږه خومرسته وکړي.

وړاندنیونه(preconditio لنډ: نیونه، فرضیه)

وړاندنیونه یو حالت او یا یو خوي دۍ، چې باید پوره وي، له دې د مخه چې یو بل حالت، یوه کړنه یا یو بل خوي او یا یوه بله پروسه د ښوني شي یا وښول شي.

د بیلګې په توګه په یوه څه کې د ننوتنې منلو یا داخېلېدو اجازې د مستحق کېدو له پاره ازموینه زیات وخت یوه وړاندنیونه یا که غواړۍ فرضیه ده

یوه وړاندنیونه کېدی شي یواځې د یوه حالت یا یوه خوی یوه وړاندنیونه وي.

........ ۲۷ ................

په سم اند کې وړاندنیونه په لاتین کې د پریمیسPremise په نامه هم بلل کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په شمېرپوهنه کې وړاندنیونه د یوې ښوونلارې یوه غوره برخه جوړولی شي

په دې توګه اېندکشن وړاندنیونه induction precondition *Induktionsvoraussetzung* پایونه د اېندکشن ښوونه(Induktionsbeweis (the prove of induction)د ځانګړو څخه په ټولیزو پایونه) پیل په نخښه کوي.

بېلګه: په ډېرو هېوادونو کې د تابعیت منلو لپاره په پوره سویه د ژبې زده کړه مخ د مخه وړاندنیونه ده.

په افغانستان کې د پوهنتون ننوتنې لپاره د کانکور ازموینه وړاندنیونه ده.

قضیه یا جمله:

جمله په شمېرپوهنه او سم اند کې یوه نوې پوهه یا پېژندنه ده، چې له اکسیومونو، ټاکندویو (پېژندونو یا تعریفونو) او څرګند جملو څخه فرمولبمدي کیږي. ددې لپاره، چې د یوې جملې وینا و منل شي یا وپېژندل شي، باید و ښوول شي . که په کره توګه ونیسو نو دا یوې منلې legitimierte (قانوني) پرلپسې ټولګیز (صنفي) پریدیکاتي سم اند د پایونې پرلپسې ده یا که غراړۍ پایله ده.

**ښوونه:**

په شمې رپوهنه کې ښوونه د یوې وینا د رښتیاوالي یا نارښتیاوالي باوري راوېستنه ( ښوونه) ده. دا د اکسیومونو، چې سر له سره رښتیا نیول شوي وي او نورو وینا و څخه، چې رښتیاینه یې تیاره ښوول شوي وي راوېستل کیږي.. دلته له اکسیوماتیکي **axiomatischen** ښوونې خبرې کوو.

شمیرپوهنیزښښوونېزیات وختپه وړو، وړوپلو د نورو غونډالویا جملوپه بنسټ سرته رسیږي.

جوړښتیزې – او نا جوړښتیزې ښوونې.

شتونښوونه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



شتونښوونه چې وښايي ده، يا يوه تلنلار ورکړ شوې، چې اوبی ته موبيايي،دا په دې مانا چې، يواوبی جوړيږي يا منځ ته راځي.

د يوه نه جوړښتيزې ښوونې سره د خويونو لرلوسره د يوه او بيشتون پای کيږي. کله ختيناسيده نيونې کيږي، چې اوبيدې شتون نه لري. له دې ښوونو لاس ته نه راځي، چې سړی خنگه اوبی لاسته راوړي.

غوښتنه (ثبوت) Behauptung

غوښتنه (ثبوت) Behauptung يا ،، څرگند يا روښانه حکم ،،تضمين شوی قضاوت،، هم بلل کيږي، يوه جمله ده د ځانگړې مانا سره او له ويونکي څخه داسې ويل کيږي، چې ټوليزه او د تل لپاره وي. که د بېلگې په توگه څوک پوښتنې ته ، چې ايالندن له پاريس څخه لوي دی،؟

ځواب وايي: لندن په ۲۰۰۰ ز ک کې د پاريس څخه زيات اوسيدونکي لرل،، نو له دې سره دی غوښتنه رامنځ ته کوي.

يوه غوښتنه نه يواخې لکه (څرکندونه) ويېنه يوه جمله ده د ټاکلې خونديونې (متن) سره، بلکې يو ټوليز ه کړنه کاروايي ده: د ويل شوې وينا لپاره يوه ټوليزه په اختيار کې نيونی (چې گوندې د ټيکوالي دعوا پرې شوي وي) باوري کيدنه. John R. Searl د دې لپاره د خبروکار"speach act" کلمه و کاروله.

غوښتنې کېدی شي ټيک ( همداسې رښتيا ) وي يا نارښتيا. دا له دې امله موخه ورې دي، چې غوښتنو باندې د منلو او ردونو له امله خبرې اترې يا که غواړی مباحثه وشي، شک

پرې راشي، ومنل شي يعنې تصديق شي، چې زور پرې واچول شي، وښوول شي، رد کړاي شي (ياني تضاد يې وښوولی شي).

د نورو ژبنيو څرگندونو څخه يې رابېلونه

غوښتنې (ثبوتونه) نه دي لکه دا لاندې:

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱ – په نيونو ودانې يا فقط نيول شوې يا نا جدي جملې. بېلګې په توګه په ادبياتو، ژبتمرينونه يا ټوکې ټکالې لکه (،،په يوه وخت کې يو پاچا وو...........،،)

۲ – پوښتنې، شک، ګومان (،، نه پوهېږم، چې ايا دا با راشي،،)



۳ – تيوريتيکي نيونې (،، نيسو،چې هر مالک د جګې ګټې هلې ځلې کوي،،)

۴– امر ( ،، لاسونه جګ،،)

۵ – کليمه ټاکنه يا نومينال پېژند: ،، د زياتو اتومونو ټينګ تړنه دې ،، ماليکيول ،، و بلل شي.

۶ – د ځانيز خوند يا مزې څرګندونه (،، دا موزيک مې ښه راځي،،)

کومه ګټه نه لري، چې دلته د ربښتيا پوښتنه رامنځ ته کړو. دا ډول جملې له بله اړخه په ارزښت کيږي، د بېلګې په توګه موخه ورتيا، هنري خونديونه، مجلس ارزښت.

د غوښتنو ډولونه.

غوښتنې د خپلو منځپانګو له لارې په برخو وېشل کيږي، د بېلګې په توګه:

— غوښتنه، چې نړۍ څنګه جوړه شوې، داسې په
نامه empirische يا په تجربو ودان، په ربښتيا faktische يا مثبت

ښوونه(،، دا ونه له لسوکالو زړه ده،، ، ،، سرپ له وسپنې درانه دي،،). دا ډول غوښتنې تجربه- پوهنه ده، په ځنګړې
توګه empirische ايمپريکي کارونه په پيداښتې پوهنو کې.

— سم اديز- شمير پوهنيزې غوښتنې (،،د ۱۴۴ څلورۍ ريښه ۱۲ ده،،). دا د شميرپوهنې او سم اند اله ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

— ارزښتيدونکي غوښتنې (،، سپين و برگ ته ښه باجه يا رباب وهي،،).

— يوه لار ، يوه کچه، اخلاقي غوښتنې (،،سړی بايد له دوي سره مرسته وکړي، چې بې له کومې تيروتنې يا ناوړه کړنې يا گوناه اړ شي،،). دا ډول غوښتنې د نورماتيو-يا مثبت اخلاق Ethik الې دي.

— hermeneutische روښانه، موخه ښوونيزې غوښتنې (،،د سپين بيرغ ښکاره کونه دا مانا لري، چې: ،، موږتسليم يو،،). دا ډول غوښتنې د ژب – او کلتورپوهنې الې دي.

د ننې سايکولوژيکي يا دننه (ځان) کتنې غوښتنې
innerpsychische oder introspektive Behauptungen

........................ ۳۰ .................

(،، زه د غاښ درد لرم،،. ،، گپينی خوږ خوند لري،، ، ،، زه گورم، چې ترمومتر۱۰درجې څيلزيوس ښايي،،).

غوښتنې په نوروبرخو هم وېشل کيږي په:

— غوښتنې په پخواني وخت کې په يوگړو يا ځانگړو پېښو، اوسمهال يا راتلونکو پېښو.

(،، گوېتې په ۱۸۳۲ کې ومړ،، که د گوېتې په ځای مې کوم افغان ليکلی،نود زېږېدنې يا مرگ ورځ مې يې بايد اسانه پيداکولی شوی، دا چې دا مې نه شوکولی، اړ شوم همدا الماني پرېږدم.په خواشينی).دا ډول غوښتنې د تاريخپوهنې الې دي.

— د ټاکلو ډولونو شيانو شتون غوښتنه (،، په دې ځنگله کې ډينگرۍ شته،،).

— په تجربوي قانونمندی يا لاراړوندوالي غوښتنې (،، که څوک يوه کريستال گلنی په مرمرځمکه وغورځوي، زرې زرې کيږي،،)

— د علتونوغوښتنه (،،سپی مړ شوی، ځکه چې هغه سرطان لروده،،).

(c) ketabton.com: The Digital Library

موږ د ثبوت په ځای د دې نوي وی ،، غوښتنه،، سره بلد نه یو، خوګورو چې دا سم همغه ثبوت دی.

غوښتنه: سپی په سرطان مړ شوی.

ښوونه: دا بیا باید وښوول شي، چې همداسې ده اوکه نه.

Imperativ په امریه بڼه، غوښتنې، امر

Implikation په کې رادننه کونه

جمله (شمیرپوهنه)

جمله په شمیرپوهنه اوسم اند کې یوه نوې پیژندنه ده، چې دا له اکسیومونو، پیژندونو او تازه پیژندل شوو جملو څخه وتلې فرمولبندي کیږي یا جوړیږي.د دې له پاره چې د یوې جملې وینا دپیژندلشي،باید دا وښوول شي.



په نورمال ډول جملې د خپل غوره والي په ترتیب په یوه اهرامډوله ترتیب پهبرخو وویشل شي، چې ترتیب یې داسې بریښي:

۱ – Lemma مرستندوی جمله (د یوه غوره ښوونه کې مرستندوی جمله)

۲ – Korollar د کره کونو یا ترې لاس ته راوړنو یوځایکول، چې دا له یوې جملې یا یوه پیژند بې د لویو بوختوالوراکول کیږي. زیاتوخت پای لاسته راوړنې)

۳ – Proposition (سم اندیزې ویناوې).

۴ – جمله یا تیوریم Theorem (پوهنیزه – او بنسټجمله یا سټجمله. Theorem تر اوسه په زیاتو ژبو کې کارولکیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تل ژبنيز – يا ورځني ژبنيز ليدنې غوښتنه

— تل ژبنيز ليدنې غوښتنه په ټوليزه توګه فکر دۍ.. که سړي ته يو فکر يا پيښه پيدا شي، نو سړی کړی شي دا يوه غوښتنه وبولي.

بيلګه- غونډاله: زما غوښتنه ده،چې زه موټر بيايم.

مانا: زه اوس په دې فکرراغلم، چې په موټر کې ځم.

غوښتنه د فلسفې له ليده يا له مخې:

د فلسفې پوهنې له مخې د **Immanuel Kanntichnochnicht** (ايمانول تراوس مې نه پيژاند) کاتيګوري (ډلې) غوښتنه د احتمالوالي لارو – – يا قانونمندۍ په بنسټ په درې برخکاتيګوريو وېشل کيږي: دروغ، پوهيدنه اوتوکلي پيښيدنه.

د **kategorischen Konjunktivs** يا ناسيده ويناو په بنسټ دروغ هغه دغوښتنې زياته پيښيدونکې بڼه ده.

ويناډولونه يا ويناېڼې:

درې Modi مودوله يا ويناډولونه شته: اينديکاتيو، کونيونتيو اوايمپيراتيو

اينديکاتيو Indikativ نومينال ويناېڼه ده: ته ځې، هغه ځي او داسې نور.

کونيونکتيو يا ناسيده ويناېڼه: غوښتن- يا هيله بڼه: زه به لاړ شم، ته به لاړ شې.



ايمپيراتيو Imperative امربڼه: لاړ شی.

Konjunktiv ناسيده وينا:

کونيونکتيوپه هغه حالتونوکې کارول کيږي، چې ريښتونی نه، بلکه يواځې شونی يا ممکن وي. يا دا:

(c) ketabton.com: The Digital Library

زيات وخت وينا په ناسيده ويناکې د امکان په چاپيريال کې راځي، دا د امکانبڼه هم بلل کيږي. کونيونکتيودا نه ښايي، چې يو څه شوني دي.

زه به لاړ شم، ته به لاړ شي اوداسې نور.

دا موضوع پوره اوږد او په زړه پورې د خبروڅه لري.

دا څه ليکنې مې چې وکړې، نود ژبې سره مې مينه نوره هم زياته شوه اوداسې وايم، چې په دې زاړه بدن يا تيروخت د ژبې زده کړې شم.

دا زما يوه مشوره ځوانانو اوپه پوهنه کې هڅاندو ته ـ په هره پوهنه کې چې وي- دا ده، چې بې له يوې پرمختللې دباندنۍ ژبې – چې وړانيزمې انګريزي ده- هيڅ نه کيږي، مورډېر د زده کړو وروسته پاتې ټولنه يو اوژبه موتوانمنده، خو هم وروسته پاتې ده او هرڅه بايد له بلې ژبې راونيسو.

ډاکترماخان ميرى شينوارى

## Formale Logik فورمال سماند

.............. ۳۶ .................

د فورمال سم اند لاندې په ټوليزه توګه يو سم اند پوهيږو يا يو سم اند په نخښه کيږي، چې دا د ويناو سم انديزو بڼو منځ کې اړوندوالي او د دې بڼو منځ کې د رابيليدنې -او د لاس ته راوړناړيکو سره بوخت وي يا ځان بوختوي.

په دې تنګې يا نږدې يا راټولې موخه په ټوله کې سم اند داسې په نخښه کيږي، چې دا د ويناو اوپايلاسته راوړنو يو  په دباندنۍ بڼه (فورمال)  انځور کاروي.

يا دا: د فورمال سم اند په ورشوکې انتيتيزې د هغې د اړونده تيزې په نه-والي کې پوهيدل کيږي. تيزې يعنې پ پورې  انتيتيزې هم اړه لري (،، نه پ). د انتيتيزې رښتياوالى ،، ناسم يا نارښتيا،، دى تر هغې چې همغه تيزې ،، رښتيا يا سمه،، وي، او په ځت.

............... ۳۳ ............

(c) ketabton.com: The Digital Library

له دې امله هرې انتيتيزې ته يې يوه تيزې شته. تيزې او انتيتيزې نه شي کيدی همهاله ،، رښتيا،، او نه همهاله ،،ناسم يا نارښتيا،، وي.

بيلګې:

تيزې: دا کور سور دی.

انتيتيزې: دا کور سور نه دی

تيزې: سپين په ۱۳۰۶ کې مړ شو.

انتيتيزې: سپين په ۱۳۰۶ کې مړ شو ی نه دی.

دا قناعت بيرته د فيلوسوف هيګل ترېادي Triade تيزې، انتيتيزې اوسينتيزې ته ځي.

پراګماتيکي: د هغې کړنې کړنه ده چې اړيينه وي بايد وشي او ښوول شوی وي، چې په رښتيا کار ورکوي يا په رښتيا کيدی شي.

لنډ: هغه څه چې کړوني وي، بايد وشي

## منطق يا اند سم Logik

مانا يا ترېپوهېدنه:پوهنه، د جوړښت پوهنه، د فکرکولو ښه اولارې يا قوانين، د ورکړشوو ويناو په بنسټ پايول، فکرپوهنه يا فکرپوهيدنه، د اړيين فکر پوهيدنه، اندپوهنه يا سم اند.

سرچينه: وروستی لاتين لوجيکا(يونانيlogikḗ = د اند پوهنه، logikós ته = هوښيارتيا اړوند)

پيژند: د لوګيک سره ( (von logikè altgriechisch λογικὴ τέχνη زوړ يوناني وی, انديز يا فکري هنر,denkende Kunst‛ ).

په ټوليزه توګه هوښياره پايونه او په ځانګړې توګه د هغه پوهيدنه يا پوهه – د پايونپوهيدنه - يا پوهنه يا هم اندپوهيدنه – په نخښه کوي. په سم اند کې د دلايلو جوړښت نظرد هغه

وباوريوالي ته خيړل کيري، د وينا ( د وينا پيژند د شميرپوهنې سم اند کې وګورئ) د منځپانګې څخه خپلواک. همدا په دې موخه سړی د ،، فورمال،، سم اند څخه هم غږيري. په رواج يا ورځنيډوله سم اند د فلسفې يوه برخه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیلیز ورځنۍ یا رواجي سم اند ګاونډ ریتوریک یا د خبرو هنرته ځان ودیز کړ یا وده وکړه. په شلمه پېړۍ کې د سم اند لاندې سیمبول لوجیک یا سم اند پوهیدل کیږي، چې دا د



شمیرپوهنې ( د شمیرپوهنې سم اند هم دلته داسې لړ راوړم) په دننه کې اوتیوریتیکي اېنفورماتیک کې کارول کیږي.

بیلګه:

دواړه سپي ربښتیا اوناربښتیا هوسۍ پرابلم ښکار کوي، سم اند د تورې سیلوګیزم ( –سم اند) سره په وسلوبار پسې بیړه کې دۍ. کیڼ لاندې پریمینا دس، په یوه سمڅ کې، د سم اندیزو دلایلو فلسفې کې تم شو.

*Syllogismus:* ( ربښتیا لاسته اوړنه؟؟ بیلګې څخه ښه پوهیدلی شو): سم اند، چې له دوه نیونو یوه ربښتیا لاس ته راوړنه له ټولیز څخه و ځانګړي ته راباسي.

Parmenides: د یوناني فیلوسوف پلاتون د ،، ،، یووال اوډېروالی،، لاندې یوه لیکنه.

مودرن سیمبولیک سم اند د پیداېښتي ژبې په ځای منځ ته راوړلې – یا مصنوعي ژبه کاروي( یوه غونډله لکه منه په پرېدیکات سم اند کې د بیلګې په توکه فورمالي کیږي) او په کلکه یا ټینګ پیژندلرونکی پایلار کاروي.

د داسې یوفومال سیستم له پاره بیلګه ویناسم اند (Aussagenlogik ) ( دلته د اتومي ویناوو په ځای توري کارولکیږي( زما د سم اند کتاب)) دۍ.

سومبولیک سم اند شمیرپوهنیز سم اند هم بللکیږي یا په راتنګه موخه فورمالیک سماند.

## -- Philosophische Logik فلسفي سم اند یا - منطق

فلسفي سم اند د بیلابیلو سم اندونو یو ناتیز ( پخ ؟) راټولشوی وی دۍ، چې دا ټولګیزه ویناسم اند اود پرېدیکات سم اند په بیلابیلو ډولونو بدلوي یعنې تغیر ورکوي همداسې پراخوي، په لار ، په کومه کې چې د هغې په ژبه کې د دې له پاره چې د ټاکلو خبرورشو ده، په نورو اوپراتورونو( اوپریاتور په شمیرپوهنه کې یوه ټولیزه لار ده) ماړه کاندې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زیات د خبرو لاندې د ټولګيز سم اند څنګيدنه -که لږسخته يې ووايو-، بې لارې کيدنه داسې سم اندونه انځوروي، چې د ټولګيز سم اند له ټاکلواکسيومونو( منل شوېو ويناوې) تيريږي. دا په راتنګه موخه نه-ټولګيز سم اندونه هغه ،،کمزوري،، ټولګيز سم اندونه دي، دا په دې مانا چې په دې سم اندونو کې لږ ويناوې باوري دي نسبت وټولګيزسم اند ته، خو هلته باوري ويناوې ټولګيزې هم باوري دي.

دې پورې اړوند د L. E. J. Brouwer وديزشوی Intuitionistische Logik دې، کوم، چې د „duplex-negatio د دوه واره نه-والي" اکسيوم (د يوې وينا p د دوه واره نه-والي څخه يبرته p لاس ته راځي)

(DN)

خوندي نه لري، له کومې سره چې جمله "tertium non datur„ ( د هرې وينا p له پاره باورلري:



p يا نه-p )

(TND)

نوره رابيليدوړنه ده، Ingebrigt Johanssonsد Minimalkalkül ، د کوم سره چې جمله "ex falso quodlibet„ ( د يوه مخامخوالي ( تضاد)څخه يوه په خوښه وينا لاس ته راځي)

(EFQ)

دا خبرې اترې زما د شميرپوهنې سم اند کې پوره ځيږل شوي.

نوره نه شي رابيليدلی،همداسې په دې پورې تړلی

Relevanzlogiken، په کوم کې چې ټيک د دې بنې باورلري، په کوم کې چې د کوزال له پاره غوره( relevant ) دي

بل لور ته د سم اند يادونه کوو، چې پرينځيپ يا اصول لري، کوم چې باوري نه دي. غونډاله لومړی داسې بربښي چې د ګومان له مخې دا سماندیز بنسټجمله ووايي يا افاده کړي:

که p باورولري، نوکيدی شي p ، داسې بربښي، نوره ناسمه نه وي.

سره له دې هم دا په ټولګيز سم اند کې باوري قضيه نه ده. تر هغې ټولګيز سم اند ماکسيمال-کونسيستنت، دا په دې مانا چې تر هغې د يوه ټولګيز ګومان هره اري توانمندونه به مو يوه مخامخوالي ته لاربنودوي، دا غونډاله د يو بل اکسيوم په خير نه شي ورزياتيدی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## -- ډېر ارزښتيز سماند او فوزي سم اندFuzzylogik

د ې ته پراته ډېر ارزښتيز سم اندونه ولاړ دي، په کومو کې چې د دوه ارزښتوالي پرينځيپ ( زما د سماند کتاب دې وکتل شي) او زيات هم د ارستوتالس د دريم ناشونوالي غونډاله ( زما د سم اند کتاب دې وکتل شي) باورنه لري، د دې لاندې د Jan Łukasiewiczد("Warschauer Schule„) د درې ارزښتوالي اوډېر ارزښتوالي سم اند.

کښ شمير کارونې په Steuerungstechnik کې( د يوه حالت اغيزمنوالي، يو سيستم بل حالت ته وړل کيږي ) دا کار د معلومات او خبرخپرونو له لارې کيږي) د ناپای-ارزښتوالي فوزي-سم اند کې ميندل کيږ، په داسې حال کې چېپای-ارزښتوالي سم اند د

............................ ۳۹ .............

Gotthard Günther سم اند ("Günther-Logik„) پخپله پوره کيدونکې نيونې په سوسيولوجي کې په کار راغلي.

## -- نامونوتون – يا جکټيتيدونکی سماندونه
Nichtmonotone Logiken

................ ۳۶ ................

سړی يو سم انديز سيستم مونوتون بولي، که هر باوري دليل باوري پاتې شي، که سړی نورې نيونې همورزياتې کړي: څه چې يوځل ښوول شوي، هغه په مونوتون سم اند کې هم تل باوري پاتې کيږي، يعنې هلته هم، که سړی په وروسته کې نورمعلومات هم د لاسه کړي( د ،،د،، په ځای مې،،تر،، ليکلی وو، خو وروسته مې ورته پام شو). ډېر سم انديزسيستمونه دا مونوتوني خويونه لري له دې سره ټول ټولګيزسم اندونه لکه وينا – او پرېديکاتي سم اند.

په ټولورځني او هم په پوهنيزه پايونه کې زيات (د وخت سره) تيرېدونکي پايونلاسته-راوړنې لرو، چې دا په کره سم انديز ډول باوري نه دي اود نورو څنګ کې په وروسته وخت کې له منځه بايد لاړې شي. د بيلګې په توګه وينا،، توکس يومرغه دی.،، او ،، زيات مرغان الوتلی شي.،، ،نوپايونه به دا وي، د (وخت) تيرېدنې سره سم په دې پای کوي، چې توکس الوتلی شي. مګرکه موږنورزيات معلومات لاسته راوړو، چې،، توکس پينکويين دی.،، ،نو دا پايونه بايد سمه کړو، نو پينګويين الوتنوړ مرغان نه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې له پاره چې دا ډول پایونه هکپکووني انځورکړو ، نه مونوتون سم اند وده وکړه یا منځ ته رغی: دا له مونوتوني خویونو تیریږي، دا په دې مانا چې یو باوري دلیل کیدی د نورونیونو په ورزیاتونو ناباوري شي.

د دېفاولت-پایونې ( ستاندارد نیونه) له امله موږ کنسکونت ته راځو، چې توکس الوتلی شي. د یوه ټولکیز-سم اندیز پایونډول له لارې موږوکړای شو وښایو، چې توکس نه شي الوتلی. په دې حالت کې دېفاولت له منځه ځي او د ټولګیز-سماندییز کونسکونت پسې کارول کیږي. دلته دا -دلته شډل لیکو- تلنلار د سواره دېفاولت-سم اند په نامه بلل کیږي یا په نخښه کوو.

## ډاکتر ماخان میږی

## شینواری

# د شمیرپوهنې منطق یا سم اند

# Mathematische Logik

د جودرې شهیدانو ته

بیل یادونه: د ا لیکنه ځانله د شمیرپوهنې مینه والوله پاره په پام کې نه ده نیول شوې، دا د هر مسلک ویونکوله پاره اړینه ده، ځکه چې وایي شمیرپوهنه هم د فلسفې برخه ده او پرته له دې شمیرپوهنه په ټولوپوهنو کې ځغاستې.
له دې د مخه یوځو اړیینې راوړنې. له هرڅه د مخه هغه غوره پیژندونه، چې د هرچا له پاره په زیاتوپوهنوکې اړیین دي: دلته نیونه، غوښتنه، ښوونه او نور اړینخه خیړل شوي،خو هغه د تاند درنې خېرونې په سپتمبر ۶ . ۲۰۱۹ ګڼه کې خواره شوي، مینه وال یې هلته کتی شي.

.................... ۳۷ ...............

سم اند (سماند) منطق ( logic لوژیک یونانی کلمه ده، چي

اند( فکر) یا وی( لغات) ته وایی)

(c) ketabton.com: The Digital Library

د وینا د ټیک یا کره فرمولولو لپاره د سم اند څخه کاراخستل کیږي د فورمال سم اند، د سم اند پوهنی بنسټ، د فکر ډول او فکر کولوقوانینو په څیر یې څیړنه د اریستو تلس( ۳۸٤ تر ۳۲۲ ز۰ ک۰ ا)) له خوا کېښول شو.

د شمیرپوهنی سم اند د شمیر پوهنې د یوې برخی په څیر پرمختګ یا وده وکړه. سم اند د شمیرپوهنی بنسټ دی او د شمیر پوهنی په ټولو څانګو کی نںوتی.

پوهنیزه ژبه او پیدایښتي- یا طبیعي ژبه

اند ( فکر) او ژبه یو له بل سره داسې تړلي، چې بیلیدنه یې ناشونې ده. په ورځني ژوند کی انسانان خپل اند په پیدایښتي ژبه څرګندوي، مګر دا د مسلکي ژبی په څیر د پوهنی( علم) لپاره بسیا نه کوي، څکه چی د څنو لغاتو مانا کره یا ټینګه نه ده ټاکل شوی، دا په دې مانا، چی په پیدایښتي ژبه کی یو لغات بیلی بیلې ماناوي لري د شیانوله پاره ځای اړونده بلابیل نومونه شته لکه لور(د ریبلو لور) او لور( په کومه لور) او یا څو لغاتونه ، لکه شلغم، ټیپر او منګړیتې، چی همغه یو څه یا شی په ګوته کوي۰

په مسلکی نومونو کې یو څوترمینولوجي(Terminology لاتین، یونانی: په یوه مسلک کی شته(موجود دي ) د مسلکي لغاتونو ټولګه او

په همدې توګه د هغوي ښوونه ، منځ ته راوړل کیږي، چې د کلمو موخور کره یاکلک ایښوولو ( ځای پرځاي کولو) د نورمي ویناو استعمال او د هغوي او د ورځنی ژبی ویناډود څخه ګټه اخلي.



په دې ډول په شمیرپوهنه کی هم یوه پوهنیزه ژبه منځ ته راغلې، چی له پیدایښتي یا طبیعي ژبې او یوې ځانګړی ترمینولوجي سره یوځاي شوې یا په بل ډول :

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پوهنیزې ژبی او یوې ځانګړي ترمینولوژي ټولګه ده.



له دې امله شمیرپوهنه په یوه لوړه کچه ټیکوالی(Exaktheit ) ، په یوه لنډ، روښانه، څرګند او له دې امله یو لیدوړ « وینا ډول» درلودی شي.

شمیرپوهنه او سم اند دواړه دیوې سمبولیک ژبی څخه د کارونی یا استعمال کار اخستی شي. د لغاتو په ځاي نخښی اینښوول کیږي، چی مصنوعي منځ ته راغلي او په ځانګړو ماناو سمبال دي.

د شمیرپوهنی پوهنیزه ژبه کې غوښتنه داده، چې باید په کلکه او روښانه توګه د ریښتونو ( Realität واقعیتونو) شیانوObjects، د هغو شمیرنیزو خیرو او د دې لپاره پیدا یا منځ ته راغلو نخښو منځ کې توپیر وکړي. شیان له انسانانو احساسیري، د یوه ذهنیت ( Abstruction ابسترکشن) له لارې په یوه کلیمه خیره ( متصور؟ ) کیږي او شته والی یې د یوې نخښې جوړخت construction ممکنوي. خیره کوونه یې د شمیرنې شیان دی او یوه «نخښونه» غوره کوي، چې دیوه نوم اوزیات وخت د یوې نخښې په خیر ځان نیسي یا ځان څرګندوي، د بیلګې په توګه : لکه هر پیدایښتي ګڼ د یوې نخښې داسې په نامه ګڼنخښې له لارې انځوریږي۰ دا نخښه خیفر Ziffer یا ګڼنخښه، چې عربې همغۀ صفر دی, بلل کیږي۰ داسې نخښونې دبنسټیزو نخښۇ څخه منځ ته راغلي. په درسي ځاي سیستم کې بنسټیز خیفرونه یا ګڼنخښې په لاندی ډول دي: ۰ ، ۱ ، ۲ ، ۳ ، ٤ ، ۵ ، ٦ ، ۷ ، ۸ ، ۹ ۰

د شمیر پوهنی سم اند بنسټیزې کلمي

۱ثابتی( همغه یا تل همغه، همغه ارزښتیزې) ، اوښتونی یا اوړیدونی یا واریابلې ، ترمونه

Constants, variables, terms

په شمیرپوهنه کې شیان، د شیانومنځ کې اړیکې او د شیانو تړنې په نخښو( سومبو-لونو) انځوریږي۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

١ – شمیرپوهنیزي نخښې

- د ثابتو(تل همغو) لپاره نخښې ( علامې) دا د یوه کره ټاکلې مانا لپاره نخښې دي یانې تغیر نه خوري، لکه ٧ ، ١٢، e, pi او یا که دا د مخه ځیره رانه یوناني پې $\pi$او داسې نور

–د اووښتونو یا واریابلو لپاره نخښې: دا د یوې ورکړ شوې ډیرۍ ( په ډیرۍ پوهنه کی روښانه کیري) داسې په زړه پورې توکی لپاره یوه نخښه ده، کومه چی د

.................. ٣٩ .............

– اووښتونوبنسټډیرۍ بلل کیري، دا په لاتین تورو په نخښه کیري او کله کله په اندکس(ز٠ایندکسونو) یا پیژندنخښه index( ز٠ پیژندنخښې Indices) چې ایندکس د تورو پښو ته راځي په نخښه کیري٠ لکه

$a_1, a_2, b_j; i = 1, 2, 3, \ldots, x_j$ یا

a1;a2;a3;...ai.; i0 1,2,3,......

داسې مناسب لیکنه یې نه ده، خو اړیم، چې داسې یې ولیکم، بل ډول ن ج ته نه شي پورته کیرۍ.

اړیکنخښې :

دا د شیانو اوګڼونو منځ کې د اړیکو نخښې دي لکه < , >، ≤ , =
≥

- د نښلونو،کارونو، ترڼو یا عملیونخښې : لکه زیاتون-، کمون- ، ځل-، او ویش نخښې:/، : +, -, *

- تخنیکې نخښی : لکه سیمیکولوم („ „)، نوکان ( ) او نور ډولونه یې او کوما ،

د نخښو لړۍ : که نوکان، واریابلی( اووښتونې), ثابتی او د هغوی یوځاي ایښودل د اړیکو- ، نښلونو- ، او تخنیکی نخښو یوځاي ایښوول موخه ور یا هدفمند یو په بل زیات شي، نو یوه د نخښو لړۍ ترې منځ ته راځی٠

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیلګه :

الف : د3.( 1 + 2a ) – a + 144 یوه د نخښو لړی ده

ب :11x =6 – 3a ).( b – 12)، دا د نخښو لړی نه ده، ځکه چې د نخښو لړۍ موخه وره نه ده ایښوول شوې، د برابرنخښې د مخه نوک نه شته، دا په دې مانا، چې له دې څخه څه نه پوهیږو٠

٢ – ترمونه terms, Termen : ترمونه مودمخه لږ روښانه کړل،نور زموږ له پاره دلته بسیا کوي.

بیا

## د شمیرپوهنې سم اند نو څه شی دی؟

.................. ۴۰ .................

داسې یې را ساده کوو: د شمیرپوهنې سم اند( منطق) د ویناو سره سر او کار لري.

وینا څه شی دی؟

## وینا Aussage

دا چې انسان د خپل چاپېریال د ټولو شیانو او پیداینښتونو سره لاس په ګریوان دی، نو پوښتنې او هیلې رامنځ ته کیږي،غوښتنې لري او ویناوې کوي، په کومو ویناو کې، چې شیان او رینښتونی( واقعیتونه) بیرته هنداره ( منعکس) کیږي یا په یوه څه یا شي، چی وینا کیږي، نو موخه ترې د هغه څه رینښتونې ځاننیونه ده٠ یوه وینا په واقعیت کې ټیک هلته رینښتیا ده، کله، چې په هغې کې شي حالت یا بهتره شي ځاننیونه په رینښتونې شته یا موجود وي، په بل حالت کې دا وینا نارینښتیا ( غلطه ) ده.موږ نیسو، چې دا څه دې په شمیرپوهنه کې کره ټاکلي وي او پریکړه دې پرې کیدی شي.

زه هڅیدلی یم، چې څو د شمیرپوهنې سم اند پیژندونه له تاسوشره شریک کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پژند( تعریف ) :

وینا د یوه شی ، ځرنګوالي (چې څنګه دی)، د هغهٔ بیرته هندارونه ده. ( دا په دې مانا، چې وینا یو شی په وینا کې همهغسی ښایې لکه څنګه چې دی له دې امله شي هندارونه یامنعکسونه)، چې د ژبی له لارې وړاندې کیږي یا په همدې ډول په نخښه کیږي.

یا په بل عبارت وینا د کلیمو داسې هدفمند یوځایوالی یا یوځاي ایښوول دي، چی د یوه شی ځانښیونه او د شیانو ریښتونې اړیکی بیرته هنداره کوي او موخه وردی، چې د هغه دریښتیاوالی پوښتنه رامنځ ته کړای شي.

یا په بل ډول :

د وینا لاندې سړی یو ژبنی یوون، یا یووالی ) واحد (unit ,Einheit پوهیږي، کوم چې د شي اړیکی ( د شي ځرنګوالی) بیانوي. دلته دا مهمه نه ده، چې دا وینا په کومه ژبه، په پیدایښتي (طبیعي) او که په مصنوعي ژبه ویل شوې ( افاده شوي) دا هم غوره نه ده، چي دا وینا د پیدایښتي پوهنو لپاره ده، د هوا حالاتو لپاره او که د بازار د نرخ لپاره۰

............. ۴۱ ..............

په بل او ورځني ډول: یوه وینا یوه جمله ده یا فرمول دی، چې یا ربښتیا او یا نارښتیا ده. داسې هم ویل کیږي، چې وینا یو «ربښتیاارزښت » ،، ربښتیا یا نا ربښتیا ،، لري.

یانې : د شمیرپوهنې سم اند لپاره پریکړی د وینا « ریښتیا ارزښت»(ربښښتیا یا نارښتیا) دی. نور خویونه په راتلونکی کې نه څیړل کیږي.

دلته مو دا زیات وڅیړه، خو اوس یې داسې لنډ لیکم:

## د وینا لنډ پیژند:

(c) ketabton.com: The Digital Library

وینا د ویونو موخه-ور( موخور) څنګ په څنګ اېښوونه ده، چې یو
،،رښتیا ارزښت،، رښتیا یا نارښتیا ولري، دا په دې مانا چې وینا
ښتیا یا نارښتیا ده.

ویناوې د لاتین په لویو تورو A , A* په نخښه کوو او
داسې نور۰

د دوه ارزښتوالی اصول یا پرینځیپ جمله

هره وینا یواځی یو ممکن « ریښتیا ارزښت» لرودی شي، دا په دې
نامه، چی وینا یا ریښتیا ده او یا ناریښتیا. ( د دریم نه والی اصول یا
پرینځیپ)۰

دا په دې ماناو چې ددې دوه ارزښتونو منځ کې بل
ارزښت ناشونی دی. دوه ارزښتوالی او د دریم نه والی
باید سره بدل نه شي.

که یوه ژبنی افاده یا وېینه د وینا په څیر ترتیبوو، دا بیا دلته ارزښتناکه
ده، چی د وینا ارزښت حتمآ باید څرګند یا معلوم نه وي۰ که بالاخره
ټوله پوهنه د رښتیا لور غوره کړي وي، بیاهم موږ څرګند ژبنیو موادوته
اړ یو، چی د هغه شي ځانیونه افاده کړاي شو یا وویلی شو، د کومو
په شته والی یا نه شته والی، چی پریکړه وشي۰

ټولې ویناوې له دې امله په دوه ټولګیو یا کلاسو ویشل کیږي، د رښتیا
ویناو ټولګی او د

نارښتیا ویناو ټولګی یا کلاس(صنف)۰

که وینا ریښتیا وي، نو ریښتیا ارزښت یې ریښتیادی او
پ.

........... ۴۲ ........................

ه w یا ر یې ښایو، که وینا ریښتیا

(c) ketabton.com: The Digital Library

ارزښت ناريښتيا  ولري ، نو په f يا،، نه،،  يې ښايواو وايو، چې د وينا ريښتيا ارزښت

ناريښتيا دی

تکرار : هره غونډاله، چی « ريښتيا ارزښت» ( ريښتيا يا نا ريښتيا) ولري، وينا بلل کيږي

بيلګې:

غونډاله ( جمله)

الف : » د کابل سين د کونړ له سين سره ګډيږي«ريښتيا وينا ده۰

ب :  7 = 4 + 3ريښتيا وينا ده

پ : » ٦ لومړنی ګڼ دی« دا ناريښتيا وينا ده.

(دګڼونو په برخه کې لومړني ګڼونه کتلکيدی شي)

پوښتنجملی : » ته د ځو کالو يې ؟ « نه شي کيدی يو ريښتيا ارزښت باندې تنظيم شي۰ له دې امله وينا نه ده۰

نورې بيلګي :

وېناوې دي:

(دپيتاګوراس (فيثاغورس) جمله۰

د دوه ولاړ اړخونو( کاتيتونو) څلوريو يا مربعګانو زياتون د هيپوتينوزې(اوږده اړخ) د څلوری يا مربع سره برابر دی.

نورې بيلګې :

سرک لوند دی

ټول سپي خطرناک دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

3 > 5



د دي پرخې يا مخامخ يا پر خلاف يا برعکس :ويناوې نه دي:

د کابل ښار

NaCl

لمده کوڅه

د افغانستان د خلکو ژوند په ديرش کلن جنګ کې

لاندې ويناوې:

کيميا يوه طبيعي يا پيدايښتي پوهنه (علم) ده

۷ پر دريو بی له پاتې ( باقي) نه ويشل کيږي

د وينا «ريښتيا ارزښت » ريښتيا لري.

لاندې ويناوې برلين يو کوچنی ښار دی

3 > 5 پنځه له دريو کوچنی دی

ټول لومړنې ګڼونه ناجوړه ( طاق) دي

کابل د کونړ پر سين پروت دی

هره يوه له دې ويناو « ريښتيا ارزښت » نا ريښتيا لري

د وينا خيرونو يا فنکشنونو څخه هم دا يوه دلته راوړم، داسې بهنامهد

وينا نه-والی:

نه-والی(نفی)Negation

(c) ketabton.com: The Digital Library

P دې يوه وينا وي.د وينا تړاو يا ويناتړنی «نه-والی»: ديوی ويناP نه-والی. هغه وينا ده چې هلته او يواځی هلته د رېښتيا ارزښت ناريښتيا لري، چیP ريښتيا ارزښت ريښتيا ولري.

موږ د وينا P نه-والی نفی په Pنه سره ښايو . دلته يې د شميرپوهنيزې ليکنوتيرپرو.

.

............ ۴۲ ................

د يوې وينا دوه واره نه والی بيرته همهغه د مخه وينا ورکوي يعنې Pنه نه بيرته P ورکوي.

بيا : دوه واره نه والی د همغې لومړنی وينا رښتياارزښت لري

## د ډاکتر ماخان ميړي شينواري کتابونه يا ژباړې او ليکنې

د ډاکتر ماخان شينواري پوهنيز کارونه، ځانګړي دي، دا په دې مانا چې د نورو پښتو ليکنو سره د پښتو ژبې له مخې پوره توپير لري او سوچې بوچې نوې دي. په لاندې ډول:

۱ – ډاکتر شينواري نړدې خلوېښت کتابونه د شمېرپوهنې ريښه کې په پښتو کړې، دا په دې مانا، چې د عربي ويونو په ځای يا يې نوره هم ښه د مسلکي نومونو انډول پښتو ويونه ليکلي.( دا انډول نومونه په پښتو کې شته، جوړ شوي نه دي)

۲ – په درې کتابونو کې يې فزيک هم په پښتو ليکلی، دا په دې مانا، چې پوهنيز او مسلکي ويونه په پښتو دي، چې دا هم د پښتو ژبې له پاره لومړی ځل دی.

۳ – دوه کتابونه د ژبې په هکله، چې هلته هم د نورو ليکوالانو د ليکنو د سمون سره سر او کار لری ، چې نوموړی په کې تراوسه ځانله دی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه په دې نورو ليکنو کې هم. ملامتي به د نومړي وي، خو وايي، چې کړنې يې د ژبلار سره سمې او سم انديزې دي.

که ژبسمون، چې بيا هم ډېر غزېدلی او چاپ ته چمتو دی، هغه ويونه د څېړنې لاندطې نيولي، چې ناسم ژبې ته را ننباسل شوي.

زما زياتې ليکنې له پخوا په ټول افغان او اوس همداسې هغه زيات يې د تاند په خپرونه  او د دعوت خپرونه کې خواره شوي او نور هم دا کار پسې روان دي.

## د ډاکتر ماخان شينواري چاپ او ناچاپ ليکنې:

1988 Vienna (Austria):

لومړی:

................ ۴۵ ..................

H.K. Kaiser , M. Shinwari : Aproximation compact topological algebra : contributions to general algebra 6 ; Page 117 – 122

1987 Vienna (Austria):

دويم:

لومړی- Interpolation und Aproximation durch Polynime in Universalen Algebren . Diss . Uni. Wien

دويم- *Interpolation and Aproximation by Polynome in universal Algebras, Dissertation at the University of Vienna/Austria*

لاندې د شميرپوهنې پښتوټول کتابونه  په المان کې د ،، افغانستان کلتوري ودې ټولنه،،له خوا  چاپ شوي دي

2000 Bonn (Germany):

دريم   :د شميرپوهنې ستر کتاب   :د شميرپوهنې برسيره د انجنري، فزيک  او اقتصاد لپاره ، همداسې  د ښوونکو او زده کوونکو لپاره  )دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

کتاب     په ۹۰۰ مخونو کې چاپ او دا نوې لیکنه به یې  ځنو ځایونو غزېدلې او ځنې ځایونه ترې لرې شوي دي)

2003 Bonn (Germany):

خلورم   :ځمککچپوهنه )هندسه( ، په سلو، زرو کې شمیرنه، د ګټې – او کټې د کټې شمیرنه   ، د اختمالوالي شمېرنه  کتاب  د ښوونځي ټولې اړتیاوې پوره کوي

2003 Bonn (Germany):

پنځم    :الجبرونه  )د الجبر بنسټونه دي ketabton:com )  (ته پورته شوی)

2003 Bonn (Germany):

شپږم  :د شمیرپوهنې   انګرېزي  –پښتو ډکشنري ketabton:com ). ته پورته شوی)

2003 Bonn (Germany):

............. ۴۶ ...........

اووم :د شمیرپوهنې الماني ـ پښتو -او پښتو الماني ډکشنري  (ketabton:comته پورته شوی)

*Mathematical dictionary German/ Pashto and Pashto/German*

2003 Bonn (Germany):

اتم  :دفرنځیال برابرون  )دا کتاب په دې خانګه کې یو پیل  دی، ساده لیکل شوی  ketabton:com )  (ته پورته شوی)

*Differential equation Translation; An Introduction*

Bonn (Germany): 2003

نهم :د شمیر پوهنې فرمولونو ټولګه

*Mathematical  Formulas*

(c) ketabton.com: The Digital Library

2003 Bonn (Germany):

لسم : شمیرپوهنه له عربي په پښتو

1997 Bonn (Germany):

یوولسم :د افغانستان په هکله سپینې خبرې :په المان کې

،،د افغانستان روغې او بیا ابادولو ټولنه،، له خو

یادونه :له ۲۰۰۰ کال دمخه ډاکتر ماخان شینواري د ،،د افغانستان روغې او بیا ابادولو ټولنه،، له خوا درې سیاسي مجلې هم را وستلې .

ژباړې او نورې لیکنې:

: *Prof. Brinkmann. (From Brinkmann.du.de)*

لاندې د برینکمن لیکنې چې له پرینکمن ن ج څخه ژباړل شوي دي. دا کتابونه د ښوونځي له پاره او همداسې د کانکور ازموینې له پاره ګټور دي.



دولسم - شمیرپوهنه د ښوونځي لپاره لومړی ټوک ( ketabton:comته پورته شوی)

دیارلسم – شمیرپوهنه د ښوونځي لپاره دویم ټوک ( ketabton:com ته پورته شوی)

څوارلسم – شمیرپوهنه د ښوونځي لپاره دریم ټوک ( ketabton:com ته پورته شوی)

پنځلسم - د احتمالوالي شمیرنه د ښوونځي لپاره ( ketabton:comته پورته شوی)

شپاړسم – احصایه یا ستاتیستیک دښوونځي لپاره ( ketabton:comته پورته شوی)

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاندې کتابونه د شتوتګارت د پوهنتون د استادانو د لکچرونو څخه چې د شتوتګارت پوهنتون ن ج څخه خپاره شوي را ژباړل شوي.

اولسم – انالیزی ١ ketabton:com ( ته پورته شوی)

اتلسم – انالیزې ٢ ketabton:com )ته پورته شوی)

نولسم – کربنیز الجبر ketabton:com )ته پورته شوی)

شلم - د شمیرپوهنې بنسټونه ketabton:com )ته پورته شوی)

یوېشتم - د فرمولونو ټولګه ketabton:com )ته پورته شوی)

دوه ویشتم – فنکشنل انالیز ketabton:com )ته پورته شوی)

درویشتم – وکتور شمیرنه ketabton:com )ته پورته شوی)

نورې ژباړې

١٣څلرویشتم – له grundstudium.info/linearealgebra/www. څخه:کربنیز الجبر ketabton:com )ته پورته شوی)

پنځویشتم Georg Gutenbrunner – ګڼونپوهنه یا د اعدادو تیوري ( ketabton:comته پورته شوی)

............. ۴۸ ...............

Bonn (Germany):

شپږویشتم - د شمیرپوهنې ستر کتاب دویم چاپ لومړۍبرخه :د پوره تغیراتو سره : دا کتاب د شمیرپوهنې برخې برسیره د انجنري، فزیک او اقتصاد لپاره ، همداسې د ښوونکو او زدهکوونکو لپاره پوره ګټور دی .په کتاب کې د اړتیا سره زیاتونه او کونه راغلې ketabton:com ( ته پورته شوی)

اوه ویشتم- د شمیرپوهنې ستر کتاب دویمه برخه ketabton:com ( ته پورته شوی)

اته ویشتم - څمککچپوهنه )هندسه (دویم چاپ د پوره تغیراتو سره ( ketabton:comته پورته شوی)

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه ويشتم – الجبر بنسټونه دويم چاپ له تغيراتو سره ( ketabton:com ته پورته شوى)

دېرشم - ډېرى پوهنه يا سټ تيوري ( ketabton:com ته پورته شوى)

يودېرشم – د شميرپوهنې سم اند )منطق رياضي ( ketabton:com ته پورته شوى)

دوه دېرشم - د يو خو شميرپوهانو ژوندليک ( ketabton:com ته پورته شوى)

دريدېرشم – د شمير پوهنې ګډې وډې ليکنې

څلوردېرشم -داهم ژباړه ده، خو ليکونکى يې متآسفانه راڅخه نابلد شوى :د مشتق او انتيګرال شميرنو ته تمرينونه او اوبيونې يا حلونه يې ( ketabton:com ته پورته شوى)

پنځه دېرشم – د شميرپوهنې انګريزې پښتو او عربې +درې ډکشنرې

شپږدېرشم – د شميرپوهنې پښتو انګرېزې ډکشنرى ( ketabton:com ته پورته شوى)

اوه دېرشم – د شميرپوهنې پښتو ډکشنرى د شميرپوهنيزو وييونو په پښتو روښانه ونه ( ketabton:com ته پورته شوى)

اته دېرشم - د زړه له کومې )دا هغه ليکنې دي، چې څنې يې په نړيول جالونو کې خپرې شوي دي(.

نه دېرشم – د افغانستان په هکله سپينې خبرې، چې وبه غزيږي.



نوري ليکنې، چې په ژباړه يې پيل شوى، خو لا پوره نه دي

څلوېښتم –د شتوتکارت پوهنتون لکچرنوټونو څخه ، چې د شتوتګارت پوهنتون ن ج څخه خپريږي :د ګروپونو تيوري ( ketabton:com ته پورته شوى)

-د ښوونځي لپاره فزيک د برينکمن ليکنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

له پنځم ټولګي  څخه تر اووم ټولګې پورې ژباړل شوی  )دا چې زما دويم مسلک فزيک دی، دا ليکنې ژباړم .دا هم د دې ليکوال يوه ډېره ښه ليکنه ده، چې -د شميرپوهنې په څير -دلته هم زيات تمرينونه د حل  يا اوبيونې سره په کې راغلي او ماته زيات ګټور برېښي (او دالاندې د برينکن څخه راژباړلې

يوځلوېشتم - فزيک  لومړی‌برخه   ketabton:com )ته پورته شوی)

دوه ځلوېښتم – فزيک دويمه برخه .برېښنا پوهنه .همدا کتاب )  . ketabton:comته پورته شوی)

درېځلوېښتم – د پوهنې وزارت له خوا چاپ د ښوونځي شميرپوهنې کتابونو ته کتنه .دې کتاب کې د دښوونځي کتابونو د هر کتاب يوې برخې ناسمونونو ته ګوته نيول شوې او ناسمونونه بيا سم شوي هم دي ). ketabton:comته پورته شوی)

څلورځلوېښتم – د فزيک کوچنی ويونو دکشنري) ketabton:com ته پورته شوی)

پنځه ځلوېشتم – پرېپوزېشن يا اړيکويونه.) ketabton:com ته پورته شوی)

شپږځلوېشتم = ژبسمون( پښتو کې ناسم راننوتي ويونه، چې سم شوي دي)

اوه ځلوېښتم – پښتو ژبلار يا ګرامر ۲۰۲۰

اته ځلوېشتم – ژبسنوم ( که غواړې دويم غزېدلې ليکنه) : له پخوانۍ ليکنې څخه نوی شوی او پوره غزېدلی ۲۰۲۰.

تازه ليکلې خو تراوسه کتابتون ته نه دې پورته شوې او دا د ځانله ليکنو په توګه له درې کاله را په ډيخوا د تاند او په دا ورسته کې د دعوت او همداسې د نورو د ج څخه خوريږي او خواره شوي دي. په دې کتاب کې د پښتو ناسم ننوتي ويونه څېړل شوي ناسمونونو ته ګوته نيول شوي او په دلايلو روښانه شوي، چې ژبمينوالو لهپارهيې لوسته او ګوتنيونه اړيينه ده.

نهه ځلوېښتم – داسې څه له فلسفې ۲۰۲۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



پنځوسم – ژبې مري او نورې ليکنې ۲۰۲۰

ډا کټر شينوارى ليکني چېرته ميندلکيږي؟:

زما نږدې ۳۹ نه ډېر کتابونه په کتابتون ټکی کوم Ketabton.com زما د غزيز او ان د ښوونځي له وخت ملګري، خو له ما پوره ځوان ستانه مير زهير شينواري ځوي زما د ګران ځوان وراره ګل شمشاد زهير شينواري له خوا خواره شوي او هيله ده، چې دا نور به هم زر تزره راته خواره کړي، چې ډېره مننه ترې کوم.

د ډاکتر شينواري د پوهنيزو هلو ځلو له امله ستاينليکونه:

۱ – د افغانستان کلتوري ودې ټولنه. جرمني

۲ – د افغانستان کلتوري ټولمه کولن ميشنيش

اړيينه يادونه: د ښوونځي نهم ټولګي شميرپوهنې کتاب کې مې نوم ليکل شوى، خو ما په کې څه نه دي ليکلي.

د دولسم ټولګي له پاره يې پښتو او دري کتابونه ليکلي وو، چې هغه بيا په بل نامه چاپ شو او پوره ناسمونونه يې درلودل، پرته له هغو پوښتنو يا نور جملو اوبيونو يا حلونو څخه، چې هغه همغه د ډاکتر شينواري د ليکنې په کې پاتي وو او د ده نوم هم په کې نه وو. د پوهنې وزارت او تر جمهورريس پورې يې ليکنې ولېږلې، خو د نصاب استادانو په غوښتنه يې د نورو کارونو څخه ډډه وکړه، وايي، چې څه مې بې له دې هم نه شو کولى

.

.

.

.

(c) ketabton.com: The Digital Library

.

# د ډاکتر ماخان میرې شینواري ژوند ته یوه لنډه کتنه

نوم: ماخان ( په لومړي ځل یې نوم ،،میرې،، وو، چې
د رحمابابا لیسه کې نوملیکلو وروسته ماخان باندې
بدل شو)

د کورنۍ نوم : شینواری

د پلار نوم: اروابښاد نورالرحمان

د مور نوم: اروابښاده پستو

د نیکه نوم: اروابښاد حسن خان

د نیا نوم: اروابښاده صبربي بي

دزېږېدو کال :ډاکتر ماخان شینواری د ۱۹۴۶ ز ک د سپتمبر په ۱۵ نېټه
زېږېدلی دی )دا خو هغه رسمي ز ک دی .سمه نیټه یې ۱۳۲۲ او
۱۳۲۰ ش ه کلونو منځ کې باید وي، خو تره مې وایي ۱۳۲۰ ه ک دی(

د زېږېدو ځای: ننګرهار د شینوارو د هسکې مېنې ولسولي په مورګې
کلي کې زېږېدلی.د مورګۍ غارخلي کلي کې د لمنځتون استادانو
څخه له قرانکریم تر پنجکتاب، خلاصه، مونیه، ګلستان پورې، چې دا مو
بیا په ښوونځې هم لوستل، لوستلي، خو بې له دې چې پوره پرې
پوه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کلیوالي ښوونځي :له ۱۹۵۱ تر ۱۹۵۴ پورې د هسکې مېنې مورګۍ لومړني ښوونځي، چې دی یې هم د لومړنیو زوکوونکو له ډلې څخه وو.

د رحمان بابا لېسه :له لومړي او بیا له دریم تر ۱۲ ټولګې پورې له ۱۹۵۴ تر۱۹۶۵ پورې.

دی د رحمان بابا لیسه کې له دریم تر ۱۲ ټولګي پورې د خپل ټولګې اولنمره پاتې شوی.

۱۹۶۶ ز ک د کابل پوهنتون دطب پوهنځي په همدې کال کې

۱۹۶۶ ز ک د سپتمبر میاشت د ښوونځي برس له لارې اتریش ویانا ته تګ.

۱۹۶۶ تر ۱۹۶۷ کال پورې ویانا اړوند مودلینګ کې د الماني یا ښه یې اتریشي ژبې او د دیارلسم ټولګي لوست.

اکتوبر ۱۹۶۷ د وینا پوهنتون کې نوملیکنه، چې د پوره زیاتو ستونځو سره په ۱۹۸۹ ز ک کال کې د ډاکترۍ په اخستلو بریالی شو( دا نو پوره ستونځې دي).

له۱۹۸۷ ز ک تر ۱۹۸۸ ز ک د فبروري تر پای د دباندنیو چارو وزارت کې مامور .

د ۱۹۸۸ مارچ څخه تر ۱۹۹۲ جون پورې په بون جرمني کې د افغانستان جمهوریت سفارت کې د سفیر دندې د شارژد افیر )صفر نه وو (تر نوم لاندې .

له هغې وروسته په جرمنې کې سیاسي پناه.

د ۲۰۰۴ ز ک جون څخه د ۲۰۰۵ ز ک جنوري پورې د کابل علومو اکادمي د پیداېښتي پوهنو څانګه کې دنده.

له ۲۰۰۸ ز ک د مارچ څخه د ۲۰۰۹ زک دسمبر پورې د ریاضي څانګه کې د پوهنې وزارت درسي نصاب کې دنده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماخان شینواري بې کاره نه دی او لږ تر لږه له ۹۷ ۱۹ څخه همدا د کتابونو لیکلو او د ژباړې دنده په غاړه اخستې، چې خپل فکر تر شونې پولې پورې تازه وساتي .

ماخان میري په ۱۹۷۲ کې له لرې د میرمن ښاپیرۍ سره واده شوی، چې د واده خبر ورته اتریش ویانا ته ورغلی .

ده د میرمن ښاپیری سره په ۱۹۶۳ ز ک کې کوزده کړې وه.

دوي ته لوي څښتن په اتریش ویانا کې د مای په شلم ۱۹۷۹ ز ک دوه بچیان وبخښل، چې ځانګه او اباسین نومیږي .ځانګه په المان کې د پوهنتون علمې همکاره هم وه او د حقوقو ډاکتره ده او اباسین ملي اقتصاد او ټولنیزه سایکولوژي لوستلې .

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**